# فکرمې سندره شوه

ژوند له يې د امن ساز راوړے دے
فکر ته مې اوګورئ سندره شوه



محمدالیاس

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فکر مې سندره شوه

محمد الیاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول حقوق دَ شاعر سره خوندي دي

دَ کتاب نوم ــــ فکر مې سندره شوه

لیکونکے ــــ محمد الیاس

موبائل ــــ 03462860464

اي میل ــــ milyaskhan37@gmail.com

تعلیم ــــ ماسټر میرینز

پېشه ــــ جهاز راني

استوګنه ــــ طوطه کان ملاکنډ

چاپ کال ــــ ۲۰۲۳

شمېر ــــ ۵۰۰

چاپ خانه ــــ اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور

کمپوزر ــــ رضوان الله مومند

۹۴۹۷۲۸۰-۰۳۴۰

ټائټل ــــ سجاد روغانے

بیعه ــــ ۵۰۰ روپۍ

د لیکوال چاپ کتابونه

شورمې د قلم په ژبه راوله

د رڼا رنګونه

د موندلو درک:

❖ طوطه کان ملاکنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تړون

د ښاغلي رحمت شاه سائل په نوم

محمد الياس

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سر لیک

شاعري یو داسې فن دے چې انسان په کښې د معاشرے د اصلاح سره سره د خپل ژوند او چاپیرچل د مختلف حالاتو , واقعاتو, احساساتو, خواهشاتو او جذباتو د ځلا اظهار په دومره اثرناکه او جادوناکه ډول سره کړے وي چې قلم ورته د لیک په ارمان شي۔

دغسې زما قلم هم زما د ژوند د مختلفو حالاتو , واقعاتو خواهشاتو, احساساتو او جذباتو د ظاهرولو او د خپل ضمیر د اواز پورته کولو په لړ کښې د شعورد دریاب نه د لاشعور سمندر ته قدم کوز کړے دے کوم چې ستاسو د وړاندې دے۔

هسې خو ما د دغې سمندریز خیالونو د احساس د ښکاره کولو خپل پوره پوره کوشش کړے دے، خو بیا هم که څۀ کمے کوزے په کښې راغلے وي نو زۀ د هغې بخښنه غواړم، ځکه چې انسان د خپله وسه پورې پړ وي او ما خپل پوره وس کړے دے ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل دغه کتاب کښې ما هغه پخوانۍ د هلکوالۍ غزلې او نظمونه هم چاپ کړې دي کوم چې ما په اولنې دوو کتابونو کښې په دې وجه نه وې چاپ کړې چې ګنې د اولس د پاره پکښې څه خاص پیغام نشته - خودا ځل چې مې پوره پنځلس شل کاله پس بیا اولوسته نو په دریم کتاب کښې مې د شاملولو فیصله اوکړه ځکه چې ما پکښې د اولس د پاره څه نه څه پیغام اولیدو

زه هیله لرم چې زما دغه زیار به یو خوا د پښتون اولس د فکر ترجماني اوکړي نو بل خوا به د پښتو ادب جولۍ هم څه نه څه فراخه کړي.

پاتې شوه دا خبره چې زما دا کتاب څومره معیاري دے نو په دغه اړه زۀ د خپل لیک د ښه او بد اړخونو ښکاره کولوذمه واري په ګرانو لوستونکو باندې پرېږدم ، چې هغوي څۀ فېصله کوي،

د الله په امان۔

ستاسو د رائې په انتظار
محمد الیاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لویه خدایه

دواړه  یو ځائے مې په زړۀ کښې رازرغون شوه
اوس علاج به مې د غم که د مستۍ کړم

د حجاز د تلو اسباب هم راله جوړ کړه
چې مئین دې په دا هسې رنګ هستۍ کړم

# قطعه

عــمــلــونــه ئې تــبــاه شـــي بــربـاد راشـــي
چې د چا پــه قول وفعـل کښــې تضـــاد راشــي

د حيـا نــه مې تنـد ے ســجـده کښــې پريوځي
چې پــه نيمو نيمو شـــپو کښـــې دې يـاد  راشــي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

بې ننګه دي بې پته بې هنره شوه
څکه راګوزار مې د نظره شوه

ژوند له ئې د امن ساز راوړے دے
فکر ته مې اوګورئ سندره شوه

ښکارې په وعدو خپله ستومانه ده
بانې کوې اوس نه راځې منکره شوه

زۀ به ئې لاهور په شوندو ښکل کړمه
دوې که زما ځار د پېښوره شوه

زۀ هم پسې داسې لېونے یمه
دا چې خنګ زما پسی اوتره شوه

څکه هر سړے پرې ساندې سور کوې
ښکارې د الیاس! شان بې ضرره شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# داجي

اللّه ته درله سوال کوؤم بلها عمر دي ډير شه
هر ځائے په تا ډاډه يمه بابا عمر دي ډير شه

امن له په صلح کښې
هم راسره جنګ کښې ئې
ژوند ځکه اسان ښکاري
ته راسره څنګ کښې ئې

نصيب دي شه سيالۍ دا د خندا عمر دي ډير شه
هر ځائے په تا ډاډه يمه بابا عمر دي ډير شه

هر ځائے کښې وينمه څما د پاره
ځانله دي بيا بيا شر اخستے داجي
په بوډاوالي کښې دي هم په اوګو
زمونږه غم په سر اخستے داجي

اخير دي هم خائيسته شه په دنيا عمر دي ډير شه
هر ځائے په تا ډاډه يمه بابا عمر دي ډير شه

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما د ښه ژوندون سوالونه کوے
ته چې دعا د خدائ په در غواړے
تخت د سلیمان ترې راله اوغواړے
هم ترې راله بخت د سکندر غواړے

په ژوند رانه خوشحاله شه رضا عمر دې ډېر شه
هر ځائے په تا ډاډه یمه بابا عمر دې ډېر شه

زه چې وړوکے ووم پیسے مې غوښتے
ستا نه په لار کور او کوځے مې غوښتے
الیاس رالوې شومه ځلمے شومه اوس
ګني لا نور به څه قیصے مې غوښتے

اللّٰه دې درله توان درکړي ریښتیا عمر دې ډېر شه
هر ځائے په تا ډاډه یمه بابا عمر دې ډېر شه

# هائیکو

څو ځله مات شوے د وطن آئینه
اللّٰه دې نه کړي چې چورې چورې شے
غټان غټان در پکښې ځان ته ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د زړۀ قرار زمونږه ,,, د زړګي سر ورانوي
ظالمه ولي راله ,,, ته پېښور ورانوي

په يو حالت کښې ,,, دي هم خوښ نۀ يمه
زما کافره حجره ,,, مشرک ممبر ورانوي

د دې نه ښه ده ,,, چې کعبه ورانه کړې
د بې اسرې خوښندو ,,, زړۀ او ځيګر ورانوي

اوس جوړوي به ,,, مرغۍ جالې چرته
زما په خاوره چينار ,,, زمونږ نختر ورانوي

په څومره ډلو کښې دي ,,, دا مونږه اوويشلو
د الياس ! قام قبيله ,,, ښه په هنر ورانوي

يادګيرنه ..
د پېښور په پوليس لائن کښې د بمي دهماکې د خبر په اورېدو
۳۱ جنوري ۲۰۲۳ مدينه منوره سعودي عرب

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د نوي کال سحره

زړه مې باغ باغ کړه په سیالۍ راوړه د نوي کال سحره
نوے پیغام د خوشحالۍ راوړه د نوي کال سحره

زخمي زخمي پر هر پر هر به نه ئې
مونږ که راویښ شو در په در به نه ئې
زما په سر به کاروبار شوے وي
ته به راځے خو ته خبر به نه ئې
ته که د امن نه بغیر راغلے
د نوي کال نوے سحر به نه ئې

د امن ناوي په ډولۍ راوړه د نوي کال سحره
نوے پیغام د خوشحالۍ راوړه د نوي کال سحره

په هر اړخ او په هر لور غواړم
سوال درنه نه کوؤم په زور غواړم
غم دي د ځان سره سمبال کړه واوره
زه درنه دا ځل تښک تکور غواړم
نور ارمانونه مي په زړه کښې نشته
پښتانه سیال په کلي کور غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ارمان راله ډالۍ راوړه     د نوي کال سحره
نوے پیغام د خوشحالۍ راوړه     د نوي کال سحره

دا څو نیمګړي حسرتونه زما
پوره کړه دا ځل ارمانونه زما
نوري د غم پټۍ پرې نه ایږدمه
ښه دي برڅیره دا زخمونه زما
الیاس امید د خوشحالۍ لرمه
وائې رنګین کړه ماښامونه زما

ډکه د ګلو نه ژولۍ راوړه     د نوي کال سحره
نوے پیغام د خوشحالۍ راوړه     د نوي کال سحره

# قطعه

تبره ازغي به دې بد زخمي کړي
د ګلاب څانګې ته توپ څۀ له وهې
ګونګټه غلے کښېنه نۀ رسېږې
د اوښ غړانګې ته توپ څه له وهې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

منزل ته رسېدو له قافله چې جوړېده
نیمه کښې ترې پاتې شو قیصه چې جوړېده

خان جې به مخوریز لره کارونه مخکښې اوکړه
سرکاره په پیسو به دې کوڅه چې جوړېده

ژړا په دغې راغله چې د کور خلق پکښې وو
زما د قام د قتل منصوبه چې جوړېده

قرباني دې عبث لاړله ظالمه نیت دې بد وو
د غټ اختر په غوښو کښې حصه چې جوړېده

هاغه ننګیالي یاران مې نشته دے ملګرو
محفل کښې به زما پرې دبدبه چې جوړېده

تا امن یادولو نو ستا سوچ پکښې سنګسار شو
الیاسه! د فکرونو تماشه چې جوړېده

۱۱جنوري ۲۰۲۳--- دمام سعودي عرب

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

سکون وي او قرار په ښار کښې ګرځمه
زه چې د سرکار په ښار کښې ګرځمه

دا ئې جوړې فیض د عقیدت دے چې
ملنګ ئې زه سردار په ښار کښې ګرځمه

مور راله په سر لاسونه ایښي دي
زۀ چې دا ګلزار په ښار کښې ګرځمه

خدا ے راباندې دومره مهربانه دے
پلار سره د یار په ښار کښې ګرځمه

ښکاري د واپس تلو ورځ ئې راغلله
الیاس! چې ئې بیمار په ښار کښې ګرځمه

مدینه منوره فروري ۲۰۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ځائے په ځائے يې زيان داسې راکړے دے
زلفو يې زندان داسې راکړے دے

زه ئې د اولس د زړۀ سلطان کړمه
خوي راله يزدان داسې راکړے دے

کټ کښې چرته کوزه سر ته نۀ کښېنم
خلقو راله شان داسې راکړے دے

مونږ ته ئې د ژوند لاره ښودلې ده
خدا ے راله جانان داسې راکړے دے

تندر د غريب په کور راوارتوي
بخت راله اسمان داسي راکړے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـا نــه بغېرژونــد کښــې د بــل چــا نــه شـــې
قســم يــې پــه قــران داســي راکــړے دے

هر ځــاے کښــې د امــن ســره يــاد شــومه
ژونـــد رالـــه تـــاوان داســـې راکـــړے دے

چاتــه مــې مغــروره ســر راټيــټ نــهٔ کــړو
خــداے رالــه ايمــان داســي راکــړے دے

الیــاس! دوخــت جــابر تــه نېــغ ولاړ يمــه
فکــر رالــه تــوان داســې راکــړے دے

## هائيکو

نــه پــري د پاســه د بنګــړو بــه راځــي
نــه بــه ســل پــوري شــي پــه تــا لا ليــه
د خپــل ځــادر ســره چــي خــپے غــزوے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

مـال زمـا هم سـر زمـا ,,, ځـار شـۀ تر دلبر زمـا
ځـار شـۀ تر دلبر زمـا ,,, مـال زمـا هم سـر زمـا

ځم چې ئې دیدن وکړم ,,, ډېر راته یاد شوے دے
ډېر راته یاد شـوے دے ,,, هغه د زړۀ سـر زما

بوسې به درنه واخلمه ,,, زړۀ مې درته شوے دے
راشـه پـه خندا خندا ,,, خوالـه تـه لږ زر زمـا

مۀ ږده پرې مرهم راله ,,, پرېږده چې بنـۀ اوسوزي
پرېږده چې بنـۀ اوسـوزي ,,, زخم او پرهر زمـا

لر زما هم بر زما ,,, الیاس وایمه بناد دي وي
الیاس وایمه بناد دي وي ,,, لر زما هم بر زما

روټرډیم - هالینډ ۲۰۰۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په سترګو کښې مې سترګو ته مو سېږه چې راځې
په زړهٔ مې لکه غشــے ورخښـــېږه چې راځې

زهٔ په هر قدم لکه پتنګ به درنه زار شـــمه
ته لکه د شـــمعې شـــان بلېږه چې راځې

ســتا د ښـائيســت غټه نخښه دا ده پښــتنې
نـاز کـوه ادا کـوه شـــرمېږه چې راځې

زهٔ به مې پرې زړهٔ له ټکورونه ورکـؤم
ته راتــه د ورايه نه خنـدېږه چې راځې

پرېږده چې اورونه ئې په زړهٔ بل شـــي نور
رقيب ته مې په لاره کښــې ځلېږه چې راځې

لا خو وړه ئې د چا شـــک دربـاندې نهٔ راځې
په لاره کښـــې حېرانه مهٔ ودرېږه چې راځې

الياس غوندې کافر ته ئې د ايمان لاره ښـودلې ده
په حســـن دې غرور کوه نـازېږه چې راځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حق او باطل

باطل ته باطل وایم که باطل وي
حق ته حق وئیلے نۀ شم په ناحقه

په حقه که باطل وي باطل نۀ دے
حق ته مۀ وایه باطل ورک شې احمقه

## زندګي او بندګي

دومره راته پته ده سجدې ورته کول دي خو
نور ترې خبر نۀ یم بندګي څه ده؟

مینه ده وفا ده که جفا ده تش دردونه وي
لږ مې ترې خبر کړه زندګي څه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ماته په سرو شونډو کښې بېګا ربه
غلې موسېدلې وو اشنا ربه

هغه طبيب يارمې هم قاتل شولو
جوړ مې شئ پخپله مسيحا ربه

ولې دې د مينې لېونې کړمه
خلق راپسې کوي خندا ربه

دا د دنياګۍ مينې نيمګړې وي
زۀ به يادؤمه صرف تا ربه

واړه د دنيا خدايان هېر کړمه
په ژبه چې مې راشي الا للّٰه ربه

سترګې که فرعوني مې اشنا لري
زړۀ مې ورته کړې د موسیٰ ربه

(c) ketabton.com: The Digital Library


جبر چې د دې نړۍ نه ورک کړمه
ستر ګې مې همېش لرې بینا ربه

ما هم د غني د خیال ملګرے کړې
اے د ستر رحمان او لوړ حمزهٰ ربه

ژوند کښې راله نور او رڼا راوله
اے د تورې شپې او سپین سبا ربه

څوک چې بل له تاسره شریک ګڼي
کیږي پرې قسم دے چې غزا ربه

لږ مقام دې خپل الیاس ته هم ورکړه
اے د لوئے الیاس د لوئے عیسي ربه

مډګاسکر- ایسټ افریقه ۲۷ مارچ ۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زړګی مې پسې چوي خدایه چې ښکلي نۀ راځي
نو ولې نۀ راځي محفل ته ولې نۀ راځي

په حجره جومات مې یاد کړې نور به څه وایم
رقیبه ماله بل شاني کنځلې نۀ راځي

رنګونه ئې اشنا ستا د رخسار چرته لیدلي وو
دا ځکه خو سپرلے د خوند په کلي نۀ راځي

د مینې لېوني به ورته څنګ وایو ملګرو
خوارۀ وارۀ په لار چې ځنګېدلي نه راځي

رېباره دروغ مۀ وایه رښتیا خبره وکړه
لږ شور ئي د بنګرو وي دومره غلي نۀ راځي

راځه چې د قاتل اشنا کوڅې لره دې بوځم
الیاسه که دې ذهن ته غزلې نۀ راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

یو خوا خندا بل خوا خفګان وینمه
په یو زړګي کښې دوه خوبان وینمه

ستا په خندا کښې ستا نه ورک شو مه زۀ
اوس چې تا ګورمه نو ځان وینمه

نظر د مینې راله مینې تېز کړو
په یوه لحظه کښې درست جهان وینمه

ولې تپوس کوې زما د سترګو
چې آئینې ته دې حېران وینمه

قاصد مې د ورایه هسې نۀ خوښېږي
الیاس پکښې نخښې د جانان وینمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چرته غزل چرته نغمه به شمه
مخامخ مۀ ګوره لمبه به شمه

چې راته ګورې نو پټ پټ ګوره
چرته سپرلے چرته وږمه به شمه

تاؤ دې نظر له دومره مۀ ورکوه
چرته بې خود چرته نشه به شمه

ته که راګورې نو راګوره اشنا
زۀ که درګورمه اودۀ به شمه

زۀ خو بس ستا د وجې زۀ یادېږم
که ته رانغلې وایه څه به شمه

د زړګي رنځ مې هسې نۀ رغیږي
که تا لرۍ وخاندله ښۀ به شمه

الیاسه دا رنګې اشعار مۀ لیکه
چرته سائل چرته حمزهٰ به شمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

راشــه چې ټکور شــې په ما ګرانه تهٔ به چرته ئې
خوږ زړهٔ مې ســلګۍ وهي جانانه ته به چرته ئې

ســتا د سـپین رخسـار هغه لمبه مې یاده شـوې ده
یـه د نـور بـخـرې مـاهـتـابـانـه تـه بـه چـرتـه ئې

څنګ به د هجران شپو کښې خندا د وصال ګورمه
هر خواتـه غمـاز دے یـه درمـانـه تـه بـه چـرتـه ئې

ســـتا نه ښــکلے نهٔ ګڼمه دا د ښــکلاګانو ښـــار
ډېر راتـه یـادېږې طوطـه کـانـه تـه بـه چـرتـه ئې

ســتا د یاد په کلي کښــې مې فکر رازلمے شــولو
ســـوچ مې غزل خوان شـــولو ارمانه ته به چرته ئې

هســـې هم ګلشـــن مې د امېد تـالـه والـه شـــولو
بنـدي مې کړه درځم درلـه زنـدانـه تـه بـه چـرتـه ئې

الیـاس! درنـه خپـل حق غواړي ســوال نـهٔ کوي
ســـپرلے دې رانه وړے دے خزانه ته به چرته ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

حسن لېوني ته ئې بار بار سوچونو وړے یم
بیا نرګسي سترګو ته د یار سوچونو وړے یم

ته خو خبر خزانه د ازغو نه بغېر نۀ راځي
زۀ دې تګ راتګ ته بهار سوچونو وړے یم

نۀ خاندي بس یه ملګرو نور دې ماته خاندي
لا ئې غرغنډو ته د رخسار سوچونو وړے یم

تۀ راته ساقي ګورے جامونه چرته رانۀ کړې
لا د مستو سترګو د خمار سوچونو وړے یم

ټوپک او قلم دواړه مې خواږه ملګري دي
ناست یمه شولګره کښې د ښکار سوچونووړے یم

چغې د الیاس د پرهرونو به سر بېږي ځنګ
پېغلې ولولو ته د نګار سوچونو وړے یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

سترګه د سبا په توره شپه کښې ځلېدلې ده
یا چرته لیلیٰ راته د بامه خندېدلې ده

څنګه به د بل غیږې له ځي که پښتنه وي
ټول عمر زما سره ملګرو اوسېدلې ده

ښکارې چې زمونږ کلي ته بیرته راراوانه ده
نن مې په سحر کښې ګسه سترګه رپېدلې ده

ځی چې د وطن ناوې په سرۀ ډولۍ کښې راولو
نن مې غیرتي وینه په تن کښې جوشېدلې ده

ماته خو ئې پټ پټونے اوسه پورې یاد دے
سترګو ته مې نۀ ګورې زما نه شرمېدلې ده

خپل مې کړه جانانه زۀ خوستا هغه الیاس یمه
دا چغه مې هر ځائے کښې د زړه نه راختلې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دواړه په یو ځائے وے ډېر به ښۀ وے نو
بس خو چې یو تۀ وے او یو زۀ وے نو

نۀ به دا دردونه وو او نۀ به دا غمونه وو
چرته ورکوتوالي کښې چې مړه وے نو

ولې به مې خله کښې ستا خائیست ته اوبۀ نۀ راتلې
تۀ د امرسې نه هم خوږه وے نو

بیا به درته نۀ ګورمه خبر دے خو
مړه که په دې باندې خفه وے نو

یه رقیبه چرته وې قاتل اشنا راغلے وو
تا به هم لیدلے وو خو نۀ وې نو

هسې نور نازونه اداګانې راته مۀ کوه
ما وې زړۀ درکومه خو وړه وې نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـا جوړې رقيـب دې چرتـه لاره کښــې رټلې وۀ
يـا دې چـرتـه ښـــلي وو چـې ســره وې نـو

نـۀ راتلمـه ځکـه دې اشـنـا ديـدن لـه نـۀ راتلم
تـۀ مـې پـه خـيـالـونـو کښـــې پـرتـه وې نـو

خبـر دے کـه ګـونګـے شــم پـروا نشــتـه دے
بس چـې ســترګو کښـې کـاتـه وے نو

مـا بـه هم د خلقو نـه پـه غلا بـانـدې دروکتـل
تــۀ چــې بــه زمــا پــه تــمــاشــه وې نــو

ما لکه پتنګ به دې طواف د ســپين رخســار کوۀ
تـۀ چـې بـه د شــمـعـې شــان لـمـبـه وې نـو

بيا به د الياس په زړۀ کښـې يره د بيلتون نۀ وه
بـس چـې زمـونـږ داســې تـلـه راتـلـه وے نـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ګرانه ثبوت ئې کړه لوخړې نۀ دي
کومې خبرې مې ستا وړې نۀ دي

چې لېوني هم په کښې ځائے نۀ مومي
دغه صحرا نۀ ده دا ښرې نۀ دي

دا خو زما د زړۀ لوګي دي اشنا
په چاپېرچل ماحول کښې لړې نۀ دي

بې د منته رضا کيږي چرته
لا مې جرګې وربانديې کړي نۀ دي

بيا رقيبان ولې په ما خبروے
چې ارادې دې راته خرې نۀ دي

چې ستا په نوم ئې قربان کړے دے سر
ژوندي دې خدائېګو هغه مړي نۀ دي

الیاسه منده خبر خبر ئي واخله
لا دې د ښو تنهاکې سترې نۀ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

خــبــره دا مـــې د زړګـــي خـــوښــــه وه
ســـتـا د نـظـر ئـې ســـادګـي خـوښــــه وه

نــن چـې پــه کـلـي د ښـېـلـتـون غـږ شـــو
دغــه بــه ګــرانــه د مــرګـــې خـــوښــــه وه

کـــلـــې پـــرېـــږدمـــه چـــرتـــه ځـــمـــه درنـــه
جـانـانـه ســـتـا هـم بې نـنـګـي خـوښــه وه

چې ســـتـا پـه در کښـــې مې ســـوالـونـه کول
زمـــا دا خـــپـــلـــه مـــلـــنـــګـــي خـــوښـــــه وه

د اشـــــنـــا مـخ تـه دې ســـجـدې ونـۀ کـړې
الـيـاســـه ځـنـګ دې بـنـدګـي خـوښــه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

هر وختې مستې غواړمه خوند غواړم
زه لیونے شوے یمه ژوند غواړم

لږ شاني د امن ننداره له ځم
لږ په پرهرونو مي پیوند غواړم

زه په خپله خاوره هر پښتون لره
فکرونه د ملالي د میوند غواړم

جنګ مې د مرګي کور ته راغلے دے
زه په خوب اوده ولي مړوند غواړم

خود سره زړه د بل خبري نه مني
دا ځکه د خپله ځانه پند غواړم

الیاس له چي په فکر لګوي بندیز
دا ظالم جابر په قید کښې بند غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

داغ د تهمت چې مې د مينې په لمن پاتې شـو
د زړۀ ارمـان مې ارمـانونو تـه غمژن پـاتې شـو

تـا خـو وخـکـے قـدرېِ لـږ ؤرپـوو نـۀ دې وکـړه
زما معصـوم معصـوم ارمان په زړۀ دفن پاتې شـو

ســتا د جبين د مســکي خال په ننداره وو مه زۀ
د فکر تال مې په خيالونو کښــې وېرژن پاتې شـو

د ژونـد اوږدې ترخې لمحې بـه مې تېرېږي څنګـه
وړوکے خيال که مې بغېر ســتا د ديدن پاتې شــو

خلق پـه مينـه کښــې ســرونـه صــدقې ګرځوي
الياســه ســتا نه په کښــې کلے کور وطن پاتې شـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د دیـدن تـږے دې جـانـانـه پـه کـتـو مـړوه
مـا پـه راتـګ دې د وصـــال پـه شـــوګیرو مړوه

لږ مې نزدې کړه ځـا نتـه مینـه بې تو لې را کړه
ســـاه رانـه خېژي مـا د شـــونډو پـه بوســـو مړوه

زۀ ئې قســـم د ے پـه دې نۀ یمه که هر څنګه وي
جام مې نســـکور کړو ما د ســـترګو پـه کاســـو مړوه

پخوا بـه ســـتا پـه ګودر ناســـتي ما لـه ژوند راکوو
اوس مې پـه شـــړنګ ګلي بې شـــانه د بنګړو مړوه

پـه الاهو کنبـــې دلاســـه نۀ شـــو زړګے د الیـاس
لکـه مـاشـــوم ئې د دیوانو پـه قیصـــو مړوه

پورټ راشد دبۍ ۲۰۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قطعه

ماتې د خوږ زړګي نغمې مې نۀ کړې
ګل مې کړه ګل مې کړه سپرلې مې نۀ کړې
اسره مې هر ځائے کښې په تا کړې ده
چاته په ژوند کښې بې اسرې مې نۀ کړې

## دعا

خدایه داسې لېوَمے خمار مې ګډ کړې په ژوندون کښې
چې نۀ زۀ د چا غماز شم نۀ مې بل سړے غماز شي
دا ارمان که مې پوره شو نو قسم دے لویه خدایه
هر پرهر به مې سپرلے شي هره چغه به مې ساز شي

## سپرلي

یا خو دا ټول چمن رنګین کړه راله
یا خو مې زخم له دردونه راوړه
سپرلیه تش دې راتله نۀ منمه
جولۍ دې ډکه د ګلونو راوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

کله مې ژوند شي کله دار ملګرو
د یار د زلفو هر یو تار ملګرو

چې راته ګوري او زارېږي رانه
وېمه چې زار شمه ترې زار ملګرو

لږ ترې پوښتنه د اشنا کوؤمه
اوګورئ څه شولو رېبار ملګرو

پردو نه ولې ګیله مند شمه زۀ
خپل مې ازغي شوله د لار ملګرو

تاب مې نظر کښې د کتو نشته
لمبې ئې خېژي له رخسار ملګرو

صفا انکار دې راته وکړي اشنا
خبر دے که نۀ کوي اقرار ملګرو

الیاس به ولې اوښکې نۀ څڅؤم
بیا ئې په زړۀ ورېږي یار ملګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ژوند کښې مې سیالۍ لره مسکا ته ورځې شمارمه
د چا په انتظار یم دا زه چا ته ورځې شمارمه

ژوند خو د ترخو نه بغیر هیڅ په ما پېرزو نۀ کړه
مرګه زر رادرومه زۀ خو تا ته ورځې شمارمه

زیړے د راتلو پرې چا د ښکلي جانان کړے دے
سترګو له خوب نۀ ورځي اشنا ته ورځې شمارمه

رنګونه ستا د شوخ رخسار ترې ځم راټولؤمه
ښکلي سپین سحر نوي سبا ته ورځې شمارمه

هسې د الیاس په لبونۍ مینه شکمنه ئې
ستا د در ملنګ یم صرف تا ته ورځې شمارمه

پورټ راشد دبۍ ۲۰۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

درنه لوګے چې په هر لور شومه زۀ
بیرته نغمه شوم بیرته شور شومه زۀ

ستا مسیحا نظر مې ونۀ لیدو
د خپل پرهر په چغو سور شومه زۀ

د لپونتوب جامې مې وشلولې
نۀ د صحرا شوم نۀ د کور شومه زۀ

د مینې لاره رانه ورکه شوله
ستا د تهمت په تکو تور شومه زۀ

څمه ماڼۍ د ستمګرو سېزم
خدایه لمبه شومه سور اور شومه زۀ

ستا د ښائست ګلان به وخاندؤم
لکه سپرلے په وطن خور شومه زۀ

ستا د عرفان په مطلب پوهه شومه
چې دې په در ربه نسکور شومه زۀ

د خپل الیاس قدر مې ونۀ کړلو
خپلې پښتو ته مې پېغور شومه زۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

سلګۍ مې زړۀ کښې په درزا شوې یاره څه دې وئیل
ښـۀ ده په خپله چې رضـا شـوې یاره څۀ د ې وئیل

ما وې بهانه به جوړوې چرته رخصـت به اخلې
نظر دې ټیټ کړو په خندا شـوې یاره څۀ دې وئیل

د حیرت کربښې دې په مخ باندې خورې غوندې وې
چې آئینې تـه پـه ځلا شـوې یـاره څـۀ دې وئیـل

پـرهـر مـې وازه خـولـه ازغـو تـه د خزان ژړلـه
د ګـل پـه ژبـه چې ګـویـا شــوې یـاره څـه دې وئیـل

ســتا اشــارو باندې زۀ نۀ پوهېدم ســاده وومه زۀ
قدم دې ونختو په شــا شــوې یاره څۀ دې وئیل

تـا بـه دروغ دروغ ګـڼـلـې د الـیـاس خـبـرې
وعدې د مینې مو رښـتیا شـوې یاره څه دې وئیل

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

د زړۀ نـه اه مـې بـې قـراره اوځـي
چـې سـتـا يـادونـه تـرې دلـداره اوځـي

تـا پسـې ځـم بـه پـه دې دشـتـو دشـتـو
خـبـر دے کـه سـاه رانـه پـه لاره اوځـي

تـۀ چـې رانـۀ شـې پـه مـا ګـرانـه اشـنـا
اوښـکـې د سـتـرګـو مـې بـې واره اوځـي

کـه پـه خـنـدا شـوې پـه مـحـفـل کـښـې راتـه
دا رقـيـبـان بـه تـول د قـاره اوځـي

داسـې سـتـا نـوم زمـا پـه خـولـه راشـي
لـکـه نـغـمـه چـې د سـتـاره اوځـي

ژړيـږه مـۀ ګـلـه زمـا د سـتـرګـو
هسـې نـۀ اوښـکـه ګـنـاه ګـاره اوځـي

چـې خـلـق اووائـي د چـا بـه ئـې تـۀ
نـوم سـتـا د خـولـې مـې بې اخـتـيـاره اوځـي

الـيـاسـه ورشـه نـن جـرګـه پـرې وکـړه
چـرتـه پـه زړۀ کـښـې کـه ئـې لاره اوځـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دا ستا په مینه کښې رسوا به شمه
چرته جانانه په ژړا به شمه

تر څو چې یاره د خپل ځان نۀ یم
تر هغې مۀ وایه چې ستا به شمه

تۀ خو رانۀ غلې بې پښتو وختې
خبر دے پښتون یمه زۀ رابه شمه

که تۀ راځې بابا کښې سوال کوې نو
زۀ منجور د پیر بابا به شمه

د هر چا مخکښې راته مۀ قاربېږه
یاره د خلقو د خندا به شمه

الیاسه جرګې ورپسې بیا ولېږه
پرون ئې وئیلې چې پخلا به شمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ساقي دې ړوند شي مېخانه دې نهٔ وي
سترګې راواړوه نشه دې نهٔ وي

اشنا رقیب که دې ډېر ولمسوي
بد خو به نهٔ کوې که ښهٔ دې نهٔ وي

وړوکے نهٔ یم چې دهوکه به مې کړې
نظر دې ټیټ ساته که زړهٔ دې نهٔ وي

چې مرور اشنا پخلا پرې نهٔ شي
ژړا دې ورکه شي نغمه دې نهٔ وي

تاته سجدې د تصور مزه کړي
کعبه دې نهٔ وي بت خانه دې نهٔ وي

الیاس پرې زړهٔ ټکورؤمه ګلې
لږه ترخهٔ شهٔ که خوارهٔ دې نهٔ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زړګے چې په ګوګل کښې مې حېران راسره وۀ
تصویر د مستو سترګو د جانان راسره وۀ

جرګې ئې راله واړه نا امېده وې لیکلې
دا ښۀ ده چې په لاسو کښې قرآن راسره وۀ

دا ستا چې ارداه د تلو ئې دومره زر بدله کړه
فطرت مې ملګرتیا وکړه باران راسره وۀ

والله ګنې زمانه په ژوندون د هېرېدو نۀ دے
هر ځائے رقیب غماز وۀ هر شېطان راسره وۀ

شهرت دې د ښائست ګلابه هسې نۀ منې
ستا غم کښې ژړېدلے ټول جهان راسره وۀ

الیاس به ترې نۀ زار کړمه ژوبل مینه د زړۀ
ملګرو که ملګرے مهربان راسره وۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

خـوب ویـنـم اشــــنـا خـوبـونـه نـهٔ ویـنـې
مـا پـه شــــان زمـا خـوبـونـه نـهٔ ویـنـې

زهٔ ورپســــې لاړمـه مـجـنـون شـــومـه
تـه لا د لـیـلـي خـوبـونـه نـهٔ ویـنـې

پـاڅـه لـېـونـیـه اوس ئـې پـرېـږدوه
تـه بـه ئې لا ســبـا خـوبـونـه نـهٔ ویـنـې

څـنـګـه بـه د ژونـد دا ســـتـړې لار وهـې
تـه چـې د اشــنـا خـوبـونـه نـهٔ ویـنـې

هســې پـه دروغـو کېنــې ژونـد تـېـر نـهٔ کړې
الـیـاســه کـه رښــتـیـا خـوبـونـه نـهٔ ویـنـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لویه خدایه

کوي نن تاته د خوارانو ګیلې
زما قلم د غریبانو ګیلې

په وربې خپته در په در ګرځو
وائي تر څو به مونږ نهر ګرځو

راکړه سپرلے مونږ له خزان دې واخله
واخله د غم نه ډک جهان دې واخله

چې په کښې ښځه په خوشحالۍ تېر کړو
دوه ورځې ژوند مونږ په سیالۍ تېر کړو

چې په کښې مینه د دلدار وکړو
هم په کښې ستا ذکر اذکار وکړو

نو خدایه ژوندون راله لږ نور راکړه
کمزورو متو له مې زور راکړه

پېښور ۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لټون (ازاد نظم)

په لټون ئې ګرځېدمه
خلقو وې راته چې نشته
ما وې شته دے شته دے شته دے
خلقو وې راته چې نشته
ما وې خبر دے بس که نشته
خو دا زړۀ مې راته وائي
څه خو شته دے څه خو شته دے
که څۀ نۀ وے بیا به نۀ وے
دا د شته او نشت خبرې
خلقو وې که شته نو څنګ دے
ما وې نور ښکلا او رنګ دے

## انجام

رو اخله قدم ګرانه مقام دې تورې خاورې دے
دومره غرور مۀ کوه انجام دې تورې خاورې دے
ورشه لږ په در کښې ئې په چغو چغو وژاړه
صبر توربانه ګل اندام دې تورې خاورې دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملګرو

یا به د ګریوان دا څو تارونه پسې وشلوم
یا به مات زړګي له د فکرونو جامې جوړې کړو

نور دا د وطن بوټي لغړ سوغړ لیدے نۀ شم
ځئ چې دې وطن له د ګلونو جامې جوړې کړو

## اختر

په خاوره پښتنه چې مې د امن څادر خور کړمه
دومره زور مې نشته دے زۀ په اختر څۀ کووم

زۀ یو لېونے شان مسافر یمه ما مۀ چېړئ
کلے کور مې نشته دے زۀ په اختر څۀ کووم

کراچۍ کښې د اختر په شپه ۱۹۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چې لاهو دې کړم د مينې په درياب کښې
ولې مخ دې رانه پټ کړو په حجاب کښې

ځم چرته صحرا کښې ځانله ښکلې اشنا ګورم
ته ورځه ناصحه ګوره ئې کتاب کښې

يو اميد په زړهٔ د خپل ارمان لرمه
دا چې اورم د شباب نغمې رباب کښې

خدايه ولې مې سپرلې درنه غوښتلو
نزاکت نه وۀ ازغي وو په ګلاب کښې

د پټکي خاوند به نۀ شې اسان نۀ دے
خر که اودروے هزار ځله محراب کښې

د جانان د در دربان مې کړه خالقه
نور خيالي تصوير ليدے نۀ شم سراب کښې

د سيالۍ راحت ژوندون مې په نصيب کړې
الياس نۀ شم سوزېدلے په عذاب کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لویه خدایه

یــو دې ژونــد د مســـــتــۍ راکـــړو
بـــل دې تــول خـــمـــار کـــړم

یـــو دې ســـــتــرګــې بــیــنــا راکـــړې
بـــل دې زۀ مـــئـــیـــن پـــه یـــار کـــړم

یـــو دې زړۀ د خـــودۍ راکـــــړو
بـــل دې تـــږې د دیـــدار کـــړم

اوس چې ستا په د ر وهمه زۀ خالقه
خـپـل ژونـدون لـه یـوه چـغـه د ســـیـالـۍ

نو ســتـا مخلوق راتـه تنـد ې د کرښــو ډک کړي
چــې زۀ غــوارم ســـتــا نــه امــن د نــړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ډاډګیرنه

په مینه مینه او اداب ټنګوو
خپلې نغمې به په رباب ټنګوو

ډېر د ازغو سره مو اوپالله
اوس به سرې پاڼې د ګلاب ټنګوو

دوي دې حرام شوده څکوي په بچو
مونږ به جائز حلال شراب ټنګوو

اوس به پردې وینې دوي څنګه څټې
مونږ چې د خپل اختیار کتاب ټنګوو

اوږدې تسپې چې د ریا ساتي
دغه ملا به د محراب ټنګوو

پردے محل به وي تر کومې ورځې
ځئ چې جونګړې د احباب ټنګوو

اوس به دا خوار اولس پخپله راځي
مونږ چې نغمې د انقلاب ټنګوو

دغه دستور د الیاس خوښ نۀ دے
ځئ چې جنون د خپل شباب ټنګوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

راځه جانانه راشــه خوشــحالۍ دې نور څۀ نۀ دي
وهم ئې ستا په غېږه کښې سلګۍ دې نورڅۀ نۀ دي

ســبا بـه ګورے نـۀ یمـه نن راشـــه پـه خنـدا یمـه
یو څو ورځې مې پاتې د ســیالۍ دې نور څۀ نۀ دي

ته ورسـره راشـه چې رنګین ســپرلے ترې جوړ شـې
ګل شوې په چمن کښې مې کلۍ دې نور څۀ نۀ دي

مرهم پرې راڵـه کېږده پرهرونـه ترې جوړ یږي
غمونـه مې پـه زړۀ بـاندې دلۍ دې نور څـۀ نـۀ دي

جانانه د ســرو ســترګو خمارونه پکښـــې ګډ کړه
محفل کښې په شرنګاراته پیالۍ دې نورڅۀ نۀ دي

الیـاســـه ! د واپس راتلو خبر دې ورتـه اوکړه
ولاړې درتـه پـېغلې پـه بلۍ دې نور څـۀ نـۀ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د خپل ناترسه زړهٔ نادان تپوس د چا نه وکړم
مینې حېران کړمه حېران تپوس د چا نه وکړم

ستا د قاتل چنګېز نظر که د سپېره تندي نه
د خپل ریښې ریښې ګریوان تپوس د چا نه وکړم

هر چا پېغور د مینې راکړو هر چا ورتېلم
اوس د ښائسته ښکلي جانان تپوس د چا نه وکړم

پردے وطن دے ټول اغیار دي په کښې یه ملګرو
زهٔ د خپل کلي طوطه کان تپوس د چا نه وکړم

وخت هم د خپلو ناکړدو انتها وکړه په ما
اوس د زخمي زړهٔ د ارمان تپوس د چا نه وکړم

خدایه په دین او دنیا دواړه دې ملیان قابض دي
د ژوند ټپو له یه قربان تپوس د چا نه وکړم

تا د اوږدو زلفو په ټال خوندونه راکړه اشنا
الیاس د صلیب دار او زندان تپوس د چا نه وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سپرلي ته

د مســـت رنـګـونـو نـه دې زار ســـپـرلـيـه
چې ورلـه ګـل ویـنـم رخســـار ســـپـرلـيـه

زاړهٔ زخــمـــونــه مـــې ورغـــلـــي نـــهٔ دي
لـږ دې ګـلان شـــيـنـده پـه وار ســـپـرلـيـه

پـه خـــپـــل پـــرهـــر بـــه ژبـــه نـــهٔ ږدمـــه خـــو
کـه تـه مـې درد لـه شـــې قـرار ســـپـرلـيـه

د مـات زړګـي نـغـمـې بـه مـاتـې نـهٔ شـــي
کـه تـه نـغـمـه شـــې تـهٔ ســـتـار ســـپـرلـيـه

چې لامـبـوزن خـيـال مـې لاهـو کـړمـه پـرې
لـږ خـو چـپـه شـــهٔ لـږ ابشـــار ســـپـرلـيـه

الـيـاس بـه ژونـدون پـه شـــوګـيـرو تـېـروي
ســـتـا د راتـګ پـه انـتـظـار ســـپـرلـيـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ستا د سترګو د مسکا له برکته
يم خلاص شوے د جنجال او مصيبته

د بل چا نه وايه څۀ له ګيله مند شم
تا په خپله رسوا کړے يم قسمته

چې وعدې پوره کولے اشنا نۀ شې
په محفل کښې راته مۀ ګوره نور ښکته

د ستم دغه ترخې لوبې دې پرېږده
لږ مې اوګوره دې سوي شانتې زړۀ ته

ستا خوږو راته د ژوند تراخۀ سپوا کړه
ما پخوا توبه ويستلې وه الفته

په ګرېوان کښې مې نور ځائے د شلېدو نشته
ځۀ ورکېږۀ ما نه څۀ غوارې غربته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندا به جام د زهرو ورله نوش کړم
اے ساقي که راکوې ئې بې منته

شیخه وروستو به جمات ته دواړه ورشو
لا وزګار نهٔ یم د خپله عبادته

د مړ رور غوږنبې به ځنګ چیچې په غاښو
خوله ساته دې په هر ځائے کښې له غیبته

چې قدم به پرې د مینې اشنا کیږدي
لا تراوسه دې الیاس ! ګورمه ورهٔ ته

## قطعه

خلق به پرې هسې د ارمان د قاتل شک کوي
مونږ له خو مسکا ئې د ژوندون زېرے راوړے دے

شپه د هجر سترې ده او مینه په کښې ګورمه
سترګو کښې ئې بیا د سباؤن زېرے راوړے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بغاوت

ساقي راواړوه شومتوب پرېږده
لا خو نشه زړګي خمار مې نۀ دے

ځکه خو ویم چې انقلاب دې راشي
په خپل وطن کښې خپل اختیار مې نۀ دے

چې د غریب په غوښو شخوند وهي
داسې ژوندون هډو پکار مې نۀ دے

چې د بېوسو قتلِ عام جوړ وي
باغي یم نۀ منم سرکار مې نۀ دے

پېښور یونیورسټي۱۹۹۷

# قطعه

یا به وخورم ککرۍ د دشمنانو
یا ودان به کړم صفونه د غازیانو
که آزاد مې وطن نۀ کړلو او مړ شوم
ماته مۀ وایئ نامه د شهیدانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


## قطعه

دا خو ته ئې چې په ما پورې خندا کړې
ګنې درست جهان زما د غمه ژاړي
د نظره چرته نهٔ شې په ما ګرانه
په بار بار دې توکم مخ ته ځکه لاړې

## وطن ته

شغلې په کښې د اور وي او که واؤره
ځمه ځم ورته په تا د ننګ د پاره
د اغیار قدم زغملے نهٔ شم واوره
زهٔ د خپل وطن په پاکه پاکه خاوره

## قطعه

تږے ښهٔ یم خدایه صبر راله راکړه
چې د شوم ساقي په جام کښې دې پېدا کړم
کلمه به هم پښتو کښې درته وایم
چې د نر پښتون په قام کښې دې پېدا کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

تـه مـې زړۀ تـه د خـپـل ځـانـه ډېـر غـریـب ښـې
ځـکـه نـاز دربـانـدې کـړم تـه مـې حـبـیـب ښـې

چـې هـم زړونـه مـاتـوې هـم ښـې عـلاج کـړې
نـۀ پـوهـېـږم تـه لا دا څـنـګـه طـبـیـب ښـې

اے پښـــتـونـه د ژونـدون تـرانـې پـرېـږده
رسـېـدلے تـه پـه بـرخـه د سـلـیـب ښـې

خوشـحـالي مې د قسـمـت نـه هر ځـائے تختې
درد او غمـه تـه مې هر ځائے کښـې نصـیـب ښې

اے الـیـاسـه! د غـتـهـانـو مـیـنـه پـرېـږده
بـدقسـمـتـه یـو پښـتـون ښې بـل غـریـب ښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ما وې زه پښتون یمه قتلیږمه
تا وې زه هم ستا په شان نړیږمه

ما وې خوشحالي ده زۀ چې اوخاندو
تا وې چې غمگینه یم ژړیږمه

ما وې چې خوب وکړم په پستو لېچو
تا وې چې لاس مۀ راوړه تخنیږمه

ما وې څۀ چې یو بل له غاړې ورکړو
تا وې چې شیشه یمه ماتیږمه

ما وې تۀ به ساز ئې زړۀ کښې پروت زما
تا وې چې نغمه یمه خوریږمه

ما وې څوک ملګرے به د ژوند لټوې
تا وې په الیاس! به راغوړیږمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ښــکـاري لېونے یم چې د دې ســو چونـه کومـه
رباب راســره نشــتـه د نغمې ســو چونـه کومـه

نـوم ئـې راتـه مـهٔ اخـلـئ زهٔ ئـې پـېـژنـم مـلـګـرو
لا د مصـــور د فــن پـارې ســـوچـونـه کــومـه

ورشــه که یقین دې نهٔ وي ستوري راله وپوښــته
ستا یاد کښې قسم دے زهٔ د شپې سوچونه کومه

زړګـیـه د اغـیـارو پـه خـبرو دهـوکـه نـه شـــې
زهٔ هم د هغو شـــان د هغې ســو چونـه کومـه

رښا بـه شــي چې مخ دې د څادر نـه بهر نـهٔ کړې
لا دې زهٔ د زلـفـو د تـیـارې ســـوچـونـه کـومـه

خدایـه دا بتکي کورونـه ئې ودان ســـاتـه
زهٔ لا پـه دې خـاوره د ټـپـې ســـوچـونـه کـومـه

جرګه درپســې راغلمه ســاقي چې بیا را نهٔ کړې
تر څو پورې بـه داســې د توبې ســو چونـه کومـه

خدائـېګو الیـاس نـهٔ یم لېونے یم ســپـېلنے یمـه
ســتـا د مخې څنګـه د ګیلې ســو چونـه کومـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ازغن ماحوم چې مې بهار شي هله
د زړۀ زخمونه به قرار شي هله

د منصور ياد به بيا تازه شي دلته
بس چې ستا زلفې زما دار شي هله

خپل کار ته هر يو سړے کار وائي
کار چې پردے شي نو بيګار شي هله

لار د منزل دومره اوږده خو نۀ ده
سړے چې ودريږي ايسار شي هله

د زړۀ درزا مې لږ سيوا غوندې شي
اشنا په سترګو کښې چې قار شي هله

بيا که الياس ته لېونے وائي نو خبر دے
خيرې ګريوان چې ئې تار تار شي هله

(c) ketabton.com: The Digital Library


# وېښ

کله لاندې کله بر بنۀ
ربه تاته ستا په در بنۀ

ربه څه ښکلې دې وېش دے
چا له اوربه چاله ترخه

د چا کور له بلبل بوځي
چا له بد اواز د خر بنۀ

چاته تش کچکول په لاس کړې
د چا تاج شاهي په سر بنۀ

چاله جوړه په سينه کړې
ته د خپلې مينې کر بنۀ

چاله ژوند د نور نه ډک کړې
چاته ګران کړې نور د نرخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــالــه جــام د مــئـیــو ورکــړې
چــا تــه وے تــا لــه کــوثــر ښــهٔ

چــاتــه غــم پــه مــوســېــدو کــړې
د چــا ښـــخ پــه زړهٔ خــنــجــر ښــهٔ

چــالــه دار کــړے تــال د زلــفــو
چــالــه ســـرهٔ لــبــان شـــکــر ښــهٔ

چـــالـــه تـــش دردونـــه ورکــــړې
چــالــه ښـــکــلــے خــوږ دلــبــر ښــهٔ

ســـتــا د ورکــړې نــه لــوګــے شــم
خــوښ الـــیـــاس پــه خـــپــلــه بــرخــهٔ

## هائیکو

پـه مـا یې تیـل بـاتي ســیزلي دي خپـل
زه چـې ژونـدے یـم دا مــي نـه ده پـوره
ګني د دوي خیال کښې شهید وومه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوند

د ازغــو پــه ښـوکـو تــلــل دي
کــه د زړۀ ویــنــې څــښــل دي

د چــا ســـتـرګـــې یـــادول دي
کــه ســرې شــونـډې ښــکـلـول دي

ژونــد د مــیــنــې نــوم دے ربــه
کــه ځــان اور بــانــدې ســېــزل دي

د چــا یــاد کښــې تــرمــې اوښــکــې
د لــېــمــو نــه څــڅــول دي

کــه د ظــلــم پــه دنــیــا کښــې
د هــر چــا پــېــغــور زغــمــل دي

د بــې وســه مــظــلــومــانــو
فـــریـــادونـــه اوربـــدل دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د خوارو مزدورانو
په تندي خولې بهېدل دي

د جنت په ارمانونو
د ریا سجدې کول دي

که په مړو ایرو کښې ربه
سرې سکروټې لټول دي

ژوند د نور ځۀ نوم دے ربه
که شعرونه تش لیکل دي

د خلوص جذبه پکار ده
که په خوله الله وئیل دي

د ملا په شان هر ځائے کښې
تش د حورو خوب لیدل دي

که د یار د تورو زلفو
په تالونو ځنګېدل دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


په شين باغ كښي د ګلونو
تش ازغي راټولول دي

كه د مال په وجه ځان ته
د غريب سر ټيټول دي

ژوندون څه دے راته وايه
دا ګټل دي كه بائيلل دي

ملا واوريده لګيا شو
ژوند نيكي جنت ګټل دي

چي ښه كړے ښه به ربيبي
دلته هر څه په بدل دي

د ملا خبره ښه وه
ما وے ژوند داسي كول دي

خو چاپيره چي نظر كړم
واړه وينم بد عمل دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سوالونه ګیلې نهٔ دي
دا خو ځان پوهه کول دي

زه به دومه قدري اوویم
ژوند خو ظلم ورکول دي

د سکون پسې الیاسه
هلته دلته ګرځیدل دي

ژوند خومینه زیاتول دي
ژوند رضا د رب ګټل دي

یوکوهاما - جاپان ۲۰۰۸

# هائیکو

په زوړ او نوي باچا بحث کیدو
پکښې زما نه هم پوښتنه اوشوه
ما وے دا دواړه د یوخره غوږونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چې همېش به پکښې تګ مې د پرواز وۀ
د زړۀ فصل مې په هغه یاد ښېراز وۀ

د خپل نظر په پېمانه مې ستا جلوې تللې
د عشق رموز زما کمزورې د مجاز وۀ

د ارمان خاورې کېدو سامان ئې جوړ کړو
د نظر غرور ئې بل شانې د ناز وۀ

خپل تخلیق ئې د تخلیق نه مرور کړو
د خالق د فن په دغه ځائے کښې راز وۀ

ته چې راغلې دومره زر په تېرېدو شو
ګنې څومره سفر اوږد وۀ دراز وۀ

د جانان مطرب نظر مصرعه ټپه کړه
د الیاس ! د مات زړګي د نغمو ساز وۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انصاف

سر ماتولو له مې سنګ جوړوم
خو پوهه نهٔ یم دا به څنګ جوړوم

د وطن خوارو له به دا ځلې
زهٔ محلونه دومره دنګ جوړوم

چې ورته فکر به هم اونهٔ رسي
داسې ښائسته به زهٔ پالنګ جوړوم

خپله پښتو به پرې رنګینه کړمه
د خپلو وینو نه به رنګ جوړوم

ساقي چې ستا په رحم پاتي نهٔ شو
خپلې مستۍ له به زهٔ چنګ جوړوم

یا به بچې بچې فرعون وي دلته
یا به دا هر سړے ملنګ جوړوم

قمیص پرتوګ خو د پښتون جامه ده
بې ننګه خلقو له به لنګ جوړوم

دلته خو هسې هم انصاف نشته
شمعې بلېږه ځان پتنګ جوړوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نظم

ما وې نشه دې کړمه
تا وې سرور د څۀ دے
ما وې تيارې جوړې شوې
تا وې دا نور د څۀ دے؟
ما وې زۀ نۀ پوهيږم
تا وې قصور د څۀ دے؟
ما وې زخمي دې کړمه
تا وې دردونه ښۀ دي
ما وې ديدن له راشه
تا وې زخمونه ښۀ دي
ما وې پتنګ يمه زۀ
تا وې اورونه ښۀ دي
ما وې سوزيږمه پرې
تا وې اهونه ښۀ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لږ مسکې شي لږ قرار شي لږ نشه نشه خمار شي
چې تا اووېني د لبره نو زړګې مې په درزار شي

د هجران په تورو شپو کښې مې زړګي په سلګو اووې
بس په دې امېد ژوندے یم چې اشنا به رانه زار شي

دا مسکې مسکې چې ګرځم نور څۀ نۀ دي اے خدایه
دا خو ځکه خوشحالېږم چې خزان به مې بهار شي

د پښو خاورې ئې ګلان شي جنتونه ترې جوړېږي
چې ئې تګ د درویشانو ملنګانو په رفتار شي

بیا خبر دےکه الیاس ! ته لېونے وائي ملګرو
چې ریښې ریښې ګرېوان ئې هم تار تار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# وړوکوالے

زۀ بـه دې د مـخ د انـنـګـو پـه نـنـداره ووم
ته به په شـلغاتو کښـې مصـروفه او مشـغوله وې
پخوا پخوا چې مونږ به په کوڅو کښې بیلوري کول
ته به په میرګاټو کښـې انخښـتې بې اصـوله وې

څه ښــکلي وختونه وو چې دواړه به یو ځائے وو
مینـه وه رنګونـه وو چې دواړه بـه یو ځـائے وو

اول خو بـه دې هیڅ نۀ وې چې مـا بـه درتـه وکتـل
اوس چـې لـږه لـویـه شــوې نـو قـار اخـلـې
اول خو بـه دې ویئـل راتـه چې نن بـه کوډګۍ کوو
اوس چـې لـږه پـوهـه شــوې نـو قـار اخـلـې

خائسـته شانې خیالونه وو چې دواړه به یو ځائے وو
مینـه وه رنګونـه وو چې دواړه بـه یو ځـائے وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکښــې خو به دواړه ســره یو ځائې ګرځېدلو خو
اوس بـه پـه بهـانـه بـانـدې ګودر تـه د اوبو راځې

مخکښــې خو وړه وې که به هر څۀ دې کو له خو
اوس په سرۀ جوړه کښې به محفل ته په لمبو راځې

خائسـته خوارۀ یادونه وو چې دواړه به یو ځائې وو
میـنـه وه رنګونـه وو چې دواړه بـه یو ځـائې وو

مـا ســره خبرې د هر چـا پـه مخکښـــې مۀ کوه
اوس ګورے د خلقو په نیتونو کښې تریووالے دے
لار کښـــې لـږ پـه تـرس اوړه چې ځې ر اځې
اوس ګورے د خلقو په سوچونو کښې تریووالے دے

معصـوم غوندې خوبونه ووچې دواړه به یو ځائې وو
مـینـه وه رنګونـه وو چې دواړه بـه یـو ځـائې وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بغاوت

راشه ځان پوهه کړه اثر واخله
راشه زما ځان او ځيګر واخله

که دې پکار وي خدائېګو شل ځله
واخله زما د زړګي سر واخله

ګرانه يوې روپۍ ته لاس مۀ نيسه
جيب کښې چې ځومره مې دي زر واخله

زۀ خو انسان يم دغه وس دے زما
اے چې ګرځېږې در په در واخله

خدايه چې ستا مخلوق سوالګري ګرځي
پکار مې نۀ دي مال وزر واخله

چې په کښې خوار غريب خندلے نۀ شي
د خپل رنګين سپرلي سحر واخله

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس نور غمونه پرې ليدلے نۀ شم
زما د سترګو نه نظر واخله

چې د غريب ګريوان ته لاس اچوي
خدايه لښ دغه زورور واخله

خدايه جابر په زمکه پاتې نه کړے
د وخت فرعون د وخت شمر واخله

دا چې پرې حق په جارويئلے نه شي
خدايه د دغو نه ممبر واخله

يو څو د حق خبرې اوکړه ورته
الياسه ورشه ځان له شر واخله

د يو بې وسه سوالګري ماشوم په ليدو

ارباب روډ پېښور ۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

تپوس له مې د خوږ زړګي قراره چې راځې
د لرې راته خانده خوږه یاره چې راځې

د خلقو ستمګرو د تهمت نه که یرېږې
مخ دې پټوه خبر دے په لاره چې راځې

ګډ کړه د مستۍ نه پرې دا واړه مېخانې
د یار د تورو سترګو نه خماره چې راځې

دا خړې خړې خاورې مې د کلي راله شنې کړه
زما د خوار جونګړې ته بهاره چې راځې

الیاس له ترې پېغام د خوشحالۍ په منډه راوړه
د یار د خوا نه تهٔ راله رېباره چې راځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لکه په غشو مې ځیګر ولګي
چې ستا په سترګو مې نظر ولګي

ته چې په ناز پورته کوې دې سترګې
خاص پرې زما د زړګي سر ولګي

داسې دې ویشتې یم د سترګو په تیر
لکه مرغۍ چې په وزر ولګي

ستا په راتګ دومره رڼا شي ګله
لکه په شپه کښې چې سحر ولګي

مینې دې دومره دردولې یمه
لکه تندې چې په کمر ولګي

د وطن پېغلې پکښې مستې ګرځې
چرته په کلي چې اختر ولګي

الیاسه ! ورشه نندارې له د یار
چې بازارونه په ګودر ولګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

مستي او نور غواړم
جام او سرور غواړم

ستا نه يو ښکلې دلبر
خدايه مخمور غواړم

پرون مې نۀ شکله خو
نن ئې ضرور غواړم

ساقي يو ځاځکې درنه
ښۀ په غرور غواړم

الياس ! په خوب کښې جانان
خدايه حضور غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

مینه مستي چې رنګ په رنګ نهٔ کوي
شیخه تر هغې به چنګ پنګ نهٔ کوي

آه او فریاد به دې څوک څهٔ واوري
د زړهٔ ربابه که ته ټنګ نهٔ کوي

تر هغې پورې به دې څکم په مستۍ
جامه تر څو پورې چې کړنګ نهٔ کوي

بغیر د مینې نه ژوند نه تیریږي
ژوند چې تیرے مینه به څنګ نهٔ کوي

په احترام راله نامه خو اخله
خبر دے په سر که راله جنګ نهٔ کوي

که پښتنه ئې نو د بل سره ته
په خپل الیاس ! به ولې ننګ نهٔ کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

مسته تماشه د مینې غواړمه
مرګ دې په کوڅه د مینې غواړمه

بس دے د بېلتون خبرې مۀ کوه
زۀ درنه قیصه د مینې غواړمه

خوږ نظر دې تریخ نۀ کړې
خوږه چې خواږه د مینې غواړمه

اومنه دا بوټه خوله دې سمه کړه
خوله درنه په خوله د مینې غواړمه

زړۀ دې رانه بد نۀ کړې بې زړۀ نۀ شې
زړۀ درنه په زړۀ د مینې غواړمه

نوره به د تا تا مینه نۀ کوې
زۀ خو درنه زۀ د مینې غواړمه

شابه کړه په سترګو کښې رااوګوره
اشنا لږه مزه د مینې غواړمه

شابه کړه غزل غزل سزا مې کړه
الیاس درنه نغمه د مینې غواړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زړۀ ترې صـــبرؤم خو صـــبرېدو ته مې زړۀ نۀ کيږي
ځنګه د ر نه بېل شـــم بېلېدو ته مې زړۀ نۀ کيږي

وخانده مســکۍ شــۀ دا دې وخت د ژړېدو نۀ د ے
او ښـــکو مې وئيلـه څڅېـدو تـه مې زړۀ نـۀ کيږي

سترګې دې خونخوارې دي خوځه وکړم مجبور يمه
جوړ د سترګو جنګ شو تختېدو ته مې زړۀ نۀ کيږي

تۀ چې را ته وائې اشـــنا هېر مې کړه دا څۀ وائې؟
زۀ دې هېرؤم خو هېرېـدو تـه مې زړۀ نـۀ کيږي

تناکې او پولۍ شولې په ښو کښې مې دم نشته د ے
نور د چا په ياد کښـــې رنځېدو ته مې زړۀ نۀ کيږي

ځئ چې پـه هر لور د خنـداګـانو ډيوې بلې کړو
خبر د ے که بس غم د ے ژړېدو ته مې زړۀ نۀ کيږي

شـــوم کډه پـه ســر الياس! بيـا بـه ورتـه نۀ راځم
ستا کلي کښې نور بس اوسېدو ته مې زړۀ نۀ کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ګلاب چې راتـه خـانـدې ګلـدسـتې ترې جوړۀم
ښـائیسـت ترې جوړۀم ځانله نغمې ترې جوړۀم

غصـه شـۀ لړه سـرۀ شـۀ د حیا نه ماته شـۀ
ګـلـه خـپـل ژونـدون لـره نـغـمـې تـرې جـوړۀم

ګناه مې صـرف دا وه چې په تا باندې مئین ووم
تـا هـم دنـیـا تـه وئـیـلـه لـېـونـے تـرې جـوړۀم

خبرې ئې ترخې کړې د الیـاس سـره نو وئیله ئې
بد خو به دے لوئے شـي سـم سـړے ترې جوړۀم

الیـاس چرتـه پردے نـۀ کړي پردے وطن ملګرو
ورځم شـهل پښـتون طوطـه کـانے ترې جوړۀم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نـن چې مې سـتـرګـو کښـې رودونـه راغـلـه
ښـکـاري اشـنـا چې سـتـا يـادونـه راغـلـه

سـتـا د ښـائـسـت غوټۍ ګل شـوي نۀ وي
چې د سـپـېـرۀ خـزان بـادونـه راغـلـه

اول نـظـر دې زلـزلـې جـوړې کـړې
بـيـا چې مسـکے شـوې قـيـامـتـونـه راغـلـه

د خـپـل تـپـوس جـواب مـې اومـونـدلـو
سـتـا پـه تـنـدي کښـې چې کـوتـونـه راغـلـه

الـيـاسـه! وار چې د ديـدار نـزدې شـو
سـتـرګـو تـه ولـې دې خـوبـونـه راغـلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

رحم په کښې نشــــته دے جنون په کانړو ولې
ستا کوڅهٔ کښې یاره ستا مجنون په کانړو ولې

اظهار د خوږې مینې مې تراوسه راز ساتلے دے
ســـتا نظر مې هر وختې قارون په کانړو ولې

د وصـال په طمع طمع د برداشت سندرې وائم
خبر دے که په خپله مې ژوندون په کانړو ولې

ګـلـې بـه د پـردو پـردو نـه خـنـګ کـووم
ســتا مې هر پېغور یاره جبین په کانړو ولې

بنــــکـارې قـانـون د مـیـنـې نـهٔ پـېـژنـې
چې د الیـاس غونـدې نیـازبین پـه کـانړو ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

څه چې په خوږ زړګي زما تېرېږي
وايم چې دا به په هر چا تېرېږي

ولې ګمان به پرې د غل نۀ کووم
اشنا چې غلے مې په خوا تېرېږي

د شرمه مخ ګلاب په پاڼو پټ کړي
هغه چې چرته په خندا تېرېږي

زۀ ئې د ناز ادا په صف کښې شمارم
خبر دے که ځانله په سودا تېرېږي

داسې الیاس ته ستا یادونه راځي
لکه په ګل باد د سبا تېرېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# هغه خوارهٔ وختونه چرته لاړه

چې به زما سره په ښنګ ګرځېدې
په هر اړخ به مې په ننګ ګرځېدې
هغه خوارهٔ وختونه چرته لاړه

چې د یو بل نه زارېدو به په کښې
چې بېلېدو نو ژړېدو به په کښې
هغه خوارهٔ وختونه چرته لاړه

هغه د نیمې نیمې شپې خبرې
خوږې خوږې پستې پستې خبرې
هغه خوارهٔ وختونه چرته لاړه

هغه چې تا به ماته وئیله اشنا
خدائے دې زما نه مهٔ کړه بېئله اشنا
هغه خوارهٔ وختونه چرته لاړه

قسم په خدائے رانه به هېرې نهٔ شي
بغېر له تانه بې مې تېرې نهٔ شي
هغه خوارهٔ وختونه چرته لاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کله به ښېرې دې وکړې
یا به په ورځ کښې اشارې دې وکړې
هغه خوارۀ وختونه چرته لاړه

## تر هغې به غزل لیکم

چې تر څو سپوږمۍ ځلیږي
چې تر څو ستوري پرقیږي
چې تر څو پتنګ سوزیږي
چې تر څو شمعې بلیږي
تر هغې به غزل لیکم
چې تر څو مینه ژوندۍ وي

چې تر څو باران وریږي
چې تر څو ګلان ټوکیږي
چې تر څو هوا چلیږي
چې تر څو اوبۀ بهیږي
تر هغې به غزل لیکم
چې تر څو وینه ژوندۍ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډنډوره

په روح کښې ساه ګډه شي
ژوند کښې خندا ګډه شي
تهٔ چې مې خیال ته راشې
ټوله دنیا ګډه شي
لکه په توره شپه کښې
سپینه رڼا ګډه شي

جنون ترې جوړ شي لېونے شي سړے
چې د مازغو سره سودا ګډه شي
نو بیا به څهٔ کوو جواب راکړه
چرته خبره که نن دا ګډه شي

چې زهٔ پاګل یم مئین شوے په تا
ګرانه هر څل یم مئین شوے په تا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

وریت دې شمه خبر دے په اورونو کۀ سوزېږمه
رڼا به خوروؤم تیارو کښې شمع به بلیږمه

چا چې د وطن په نوم د تن وینه ورکړې ده
زۀ په هغه مستو لېونو باندې نازېږمه

نۀ منو د مینې په چمن کښې د نفرت اواز
وکړئ ملګرتیا راله دې چغې ته جوړېږمه

اوښکو مې د سترګو د وطن مزدور ته چغې کړې
نور چې فکر ونۀ کړې زۀ ستا ملګرے کېږمه

د مینې د قرآن تفسیر به وایمه سحر ماښام
زۀ لکه نغمه به په دې ټول اولس خورېږمه

ورځم چې د مالیار نه ئې د پالنې تپوس وکړم
تر څو به لکه ګل غوندې په باغ کښې مړاوې کېږمه

څنګ چې تۀ په خپل جابر نظر باندې نازېږے دې
الیاس د خپل اختیار چغې ته داسې خوشحالېږمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درې شعرونه

درد ئې نصیب شوے په هر ځائے کښې ژړېدلے دے
چا چې په بې ننګو زړهٔ بائیللے دے

ولې به شعرونه په پښتو ژبه کښې نهٔ لیکم
ماته په غوربږونو کښې پښتون آذان وئیلے دے

ستا ګنې الیاسه په شعرونو کښې درد چرته وو
ښکاري انقلاب په نظریه کښې دي راغلے دے

# فلسفه

خوره د چا په سترګو کښې خندا هم فلسفه ده
دنیا ده په دنیا پسې دنیا هم فلسفه ده

اشنا نه به چې خلقو مې په لاره تپوس وکړو
ما وې به ورته غلې شئ چې دا هم فلسفه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ژړېږي مې په سرو سترګو ارمان په نيمه شپه کښې
ياد چې راته کله شي جانان په نيمه شپه کښې

پوښتنه مې څوک نۀ کړي زۀ د غم سلګۍ وهمه
ستم دې راپغاړه کړو خفګان په نيمه شپه کښې

شمعه چې د خپل ښائيست رڼا په مخ خوره کړي
سوزي پرې د مينې پتنګان په نيمه شپه کښې

ماليار د رنګين ماحول پوښتنه رانه مۀ کړه
سپرلے خو رانه وړے دے خزان په نيمه شپه کښې

د الياس زړۀ دې ازار کړو چې رانغلې ته دلبره
کتل به مې ستا لارو ته حېران په نيمه شپه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

غمونه هېرؤم د انتظار لارې ته ګورمه
زړګیه صبر وکړه د دلدار لارې ته ګورمه

بس نور ئې د ستم او د جفا خبرې مهٔ کړه
زړګیه بې قراره د قرار لارې ته ګورمه

په باغ کښې د ګلونو خندیده راته یاد شوي دي
حېران حېران خو ځکه د بهار لارې ته ګورمه

نغمې ترې جوړؤم ستا د راتګ په خوشحالۍ کښې
دا ځکه د بلبل د مست چغار لارې ته ګورمه

رابه شي په دې طمع عبث ژوندون مې تېر کړلو
الیاس خدایه هر وختې د یار لارې ته ګورمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

که سجدې مې درته ونهٔ کړې دلبره
د ابلیس په رنګ مې وشره له دره

ستا تقدیر کښې جنت نشته سجدې مهٔ کړه
په طواف باندې حاجي به نهٔ شې خره

که مې دار ته خېژوې هم حق به وائم
د منصور په رنګ مې ودانګل د سره

چې ازغي ئې نن ماتیږي ستا په پښو کښې
تاته چا وئیل چې داسې ګلان کره

که اغیارو له دې وران کورونه نهٔ کړه
په کوزه کښې به دې بند کړم سمندره

ما وې ښهٔ وایمه حق دے تل به ئې وایم
تا وې چپ شهٔ داسې مهٔ وایه کافره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ خو ستا په خندا پايمه ژوندے يم
ته په څۀ شولې زما نه مروره

ستا يادونو د ژوندون خواږه راکړي
لکه بوټے کړي تازه د ډېران سره

د ظالم د ناکړو خلاف ملګرو
ملاکنډ نه مې راوړي ده سندره

د ژوندون فلسفې مۀ چېړه الياسه
ګنې جوړ به لېونے شې زوره وره

## هائيکو

څه نوي شان خبره ده
د خداي د نامے زار شمه
پښتون يمه او ژوند کوؤم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داسې مۀ وایه

یاره ستا د مینې نه توبه توبه
چپ شۀ کبرژنه داسې مۀ وایه

ستا یاد کښې سحر ماښام ژړېږمه
چپ شۀ دروغژنه داسې مۀ وایه

ستا نه به بغېر وختونه تېر کړمه
چپ شۀ مکرژنه داسې مۀ وایه

ستا نه ساه اوباسم دروان یمه
چپ شۀ زنکندنه داسې مۀ وایه

دا جائیداد زما د پلار نیکۀ دے
چپ شۀ خار خجنه داسې مۀ وایه

الیاس د غني خان نه مخکښې تلے نۀ شي
چپ شۀ غوئمجنه داسې مۀ وایه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

فراق نږدې شولو ژړېږمه ځم
سم په سلګو ترې روانېږمه ځم

د تهمتونو پېټے نۀ شمه وړے
د یار کوڅه کښې نۀ ودرېږمه ځم

جرګې ترې ټولې بې نوا راغلې
نن ورته پښو باندې غورېږمه ځم

د ژوند تیارو کښې د منزل په لټون
د لېونو په رنګ خندېږمه ځم

الیاس دې د مخ رڼا ته هر ماښام
لکه پتنګ غوندې سوزېږمه ځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د غـم نـه ډک پـېـتـې پـه سـر کـوڅـې تـه
ځـمـه ورځـمـه د دلـبـر کـوڅـې تـه

ګـورمـه سـتـا د مـخ لـیـدو د پـاره
کـلـه مـابـښـام کـلـه سـحـر کـوڅـې تـه

د زړۀ ارمـان مـې پـه سـلـګـو ژړېـږي
خـلـقـه چـې ځـم د سـتـمـګـر کـوڅـې تـه

بـس د قـاتـل انـتـظـار مـلا مـاتـه کـړه
پـه بـانـه راشـه د ګـودر کـوڅـې تـه

تـا پـسـې ګـرانـه د ادب کـلـي کښـې
الـیـاس ورځـم د قـلـنـدر کـوڅـې تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د دار په سر چغې وهم لېونے
پرېږدئ چي مړ شمه بې غم لېونے

راشه په پوښتنه مې د حال وکړه
ګنې والله درپسې مرم لېونے

د يار په مينه کښې واپس روغ شو
خلقو نعرې کړلې چي کم لېونے؟

خدايه ما هسې لېونتوب خوښوو
تا رانه جوړ کړلو سم دم لېونے

ستا د الفت ستا د مسکا د وجې
الياس! يادېږم چم په چم لېونے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

عبث راتـه ښــکاریږي بې لـه تـانـه اوســېدل
پـه دې نـاترســـه کلي کښــې جانـانـه اوســېدل

واوره کـلـیـوال زهٔ د رنـګـیـنـو پـســرلـو یـمـه
تـاســـره مـې خـوښ نـهٔ  دي خـزانـه اوســېدل

څـوک چې پـه کـتـهـکـي هـم  کـټ تـه نـهٔ رســـي
ســـتـا د لانـدې څـهٔ رنګې اســمـانـه اوســېدل

ســـتـا د ښــکلیو ســترګو د خـمـار  پـه طمع طمع
تـر څـو بـه تـېـرؤم داســـې حـیـرانـه اوســـېدل

الـیـاســـه بې وعـدې اشـــنـا ســـحـر راغـلـے
خـلـق ورتـه هســـې د بـېـګـا نـه اوســـېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خبرې

چــپ مـۀ پـا تي کېږه خو بس څـۀ خبرې اووایـه
د مـیـنـې لـېـونـۍ تـه پـه مـزه خـبـرې اووایـه

بیا به ګورے ماته داســې نۀ وائې چې داســې دي
ورشـــۀ ښـــۀ پـه جـار ورتـه د زړۀ خبرې اووایـه

ځان ورته د وچې ملا جوړ کړه چې خوشـحاله شـي
هـم ورتـه د دیـن نـه ډکـې ښـــۀ خـبـرې اووایـه

ســتـا خبرې یـه خوږه زمـا پـه زړګي ښـــۀ لګي
اشـــنـا وې مـاتـه صــرف ګورې تـۀ خبرې اووایـه

کومي چې بـه تـا پـه وړوکوالي کښــې کولې نو
ځـۀ کـنـه اشـــنـا نـن خـو هـغـه خـبـرې اووایـه

الیاسه په سجدو شۀ خانه سوال دي قبول شوے دے
بـیـا پـه مـانـۍ ســرۀ شــوه وې ئې نـۀ خبرې اووایـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا زۀ څه ليکمه

دا زۀ څه ليکمه
دا زۀ ښۀ ليکمه

که راته وائې نو
بيا ئې نۀ ليکمه

او که وے چې مۀ ئې ليکه
نو بيا ئې زۀ ليکمه

غلے شۀ مړا کنه
حالات د زړۀ ليکمه

زۀ بګتې نۀ وايم
سمه قيصه ليکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ورېو تـــرېو لـــره
بـــرخـــه حصـــه لـــيـــکـــمـــه

چـــې پـــه کـــرېو لارو ځـــې
ورتـــه کـــاږه لـــيـــکـــمـــه

ژونـــد کـــه تـــريـــخ دے خـــو
زهٔ بـــه خـــواږه لـــيـــکـــمـــه

د دے غـــزل ســـره مـــې
خـــلـــقـــه نـــېـــتـــه لـــيـــکـــمـــه

خـــو چـــرتـــه بـــه تـــهٔ خـــبـــر شـــې
ځـــهٔ وي بـــه نـــهٔ لـــيـــکـــمـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# نوې تهذیب

ترمې خولې د اوړي
یخه هوا د ژمي

په مست ماحول کښې چرته
مسته ګدا د ډمې

د بېوسۍ نه کېده
هلته رڼا د شمعې

بچې په کور کښې وایې
مورته په څه دا ممي

د پښتنو په رنګ کړې
خدایه کړه وړه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library


که حق مې نۀ غوښتلو
ماته کړئ خوله مې

صبر کولے نۀ شي
بس دے نور زړۀ مې

خدایه تۀ اوبخښې
راله نیکۀ مې

## هائیکو

د جهالت راباندي ختمه ده خو
د دوؤ په مینځ کښې فیصله کومه
زه د ړندو په ښار کښې کوڼ باچا یم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# تصویر ازاد نظم

لکه په توره شپه کښې ښکلې سپوږمۍ
د سباؤن ښکلې رڼا جوړه کړي
دا سې د خیال په دنیاګۍ کښې زما
دا ستا تصویر ګله مدام جوړیږي
ما وې چې نن به ستا تصویر ګلې
زما سره زما د مینې په نوم
یو څو خوږې خوږې خبرې وکړي
خو ستا تصویر راته ګوم سوم ولاړ وۀ
زما د خیال سره ئې نۀ کولې
خوږې خوږې د محبت خبرې
ما وې نن به زۀ له تانه ګلې
پوښتنه کوم چې دا جفا ولې کړي
خو ستا تصویر راته ګوم سوم ولاړ وۀ
زما د خیال سره ئې نۀ کولې
خوږې خوږې د محبت خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زخمونه د پرهر مې خندېدله چې راتلې
ګلان درته په پښو کښې توکېدله چې راتلې

ورک شې یه سپرلیه رنګینۍ در پکښې نشته دے
ازغي به مې بدن کښې ماتېدله چې را تلې

پېغورونه تهمتونه مې په هر اړخ لیدله
غمونه مې په زړۀ راوربدله چې راتلې

د ډېرې خوشحالۍ نه به ساقي په مېخانه کښې
تش تور خالي جامونه کړنګېدله چې را تلې

د حیا نه پټېدۀ به د وریځو په تیرو کښې
سپوږمۍ درنه جانانه شرمېدله چې راتلې

الیاس! درته په سرو سترګو په لاره کښې ولاړ ووم
قیصه د انتظار مې ختمېدله چې راتلې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ورځم پسې ملګرو که جنون چغې وهي
بیا د دار په سر راته ژوندون چغې وهي

دا دور ځواني مرګې مې د یار په خوا کښې نۀ غواړي
لمحو کښې د وصال راته بېلتون چغې وهي

اے شابه د سبا ستوریه وځلېږه زر
تر څو به مې زړګے د سباؤن چغې وهي

بس نور ئې د قاتل نظر په غشو سورے نۀ کړے
ټوټې ټوټې زړګے مې لا د یون چغې وهي

یوائې زۀ الیاس! په ژړا سر نۀ یم ملګرو
د مینې په قانون کښې په زرګون چغې وهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

درد به دې نصيب شي په درمان نازېږه مهٔ
زړګيه لېونيه په جانان نازېږه مهٔ

مينه غرور نهٔ غواړي مينه خاکساري غواړي
بس دے کنه ياره په خپل ځان نازېږهٔ مهٔ

برداشت کړه شا به زر زر د غه سختې مرحلې
نر سپاهي شهٔ په خفګان نازېږه مهٔ

سبا به شي رڼا به شي ورک به شي فنا به شي
يه پېغلې سپوږمۍ ته په اسمان نازېږه مهٔ

الياس! د يار د پاره په دار بنهٔ يمه خبرشه
ته ګورے دلبره په زندان نازېږه مهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

ګـنـاه ګـار زړۀ مــې لـټ ثـواب غــواړي
اشـــنـا د ســـرو ســـتـرګـو شـــراب غـواړي

مـړونـد دې ســـپـيـن مـۀ ځـلـوه لالـيـه
زړۀ مــې د ســـرو شـــونـډو ګـلاب غــواړي

خـلـق د حـورو طـلـبـګـار دي خـدايـه
زړۀ مــې جـانـان خـانـه خـراب غــواړي

ســـتـا د ســـرو ســـپـيـنـو اننګـو پـه خـاطـر
ډېـر دا خـپـل ځـان لـکـه کـبـاب غــواړي

نـورې وعـدې ورســـره مـۀ کـړه اشـــنـا
الــيــاس ! د دې ســـوال جـواب غــواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حسن

(د قلندر مومند د يو نظم لوستو نه پس)

حســن په مينه کښې د خيال د ګرځېدو نوم دے
حســن په ګل کښې د خوشبو راټوکېدو نوم دے
حســن د شــفق د کنـارو نـه هـم جـوړيـږي خـو
حســن په اسمان کښې د وريځو خورېدو نوم دے
حســن پـه نرو شــونډو خنـدا تـه هم وئيلے شــي
حسن په سرو سترګو کښې د مينې جوړېدو نوم دے
حســن پـه زخمونو  تش د مـالګې دوړول نـۀ دي
حســن دوا تـه د پـرهـر د خـنـدېـدو نـوم دے
حســن سمندر کښې غورځنګونو باندې ياد شـولو
حســن پـه ميرو کښــې د بـاران راورېدو نوم دے
حســن د خيالونو په دنيا کښــې خوب ليدل دي خو
حســن په سراب کښې د نظر د هوکه کېدو نوم دے
حســن پـه هوا کښــې د ســيلۍ راتلو تـه هم وائي
حســن په شــنو ونو کښــې د پاڼو رپېدو نوم دے
حســن ملګرتيـا د فن پـه جـار بـانـدې کول دي خو
حســن د بـاطل نـه هم  د زړۀ د صــبرېدو نوم دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



حســــن ننـګ او پـت دے پـه وطن قربـانېدل دي
حســــن غیرت دے د پښــــتو پوره کېدو نوم دے
حســــن د تیـارۍ نـه پس رڼـا را تلو تـه هم وائي
حسـن په شـپه کښـې د سـپوږمۍ د ځلېدو نوم دے
حســــن د ازغي ســـره د ګـل لیـدو تـه هم وائي
حســــن په چمن کښــــې د شــــبنم راوریدو نوم دے
حســــن د لـفـظـونـو تـش الـفـاظ راورول نـۀ دي
حســــن شــاعرۍ کښ د غزل پورې کېدو نوم دے

اسلامیه کالج پېښور- ۱۹۹۸

## هائیکو

پــــرون پـــه غـــبـرګـو جـنــازو ولاړ ووم
خــوا کښــــې دکـس نـه مـي تـپـوس اوکـړو
ویـئــل ئـې د رونـو پـه ډیــران جـنـګ وؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

زما د خوږ زړګي قراره یاره
راځه چې یو شو خدای د پاره یاره

ستا دې قسم وي چرته پرې نه ږدې
ما د ژوندون په نیمه لاره یاره

چې دې غصه په مخ خوره شي کله
وینې دې څاڅي له رخساره یاره

ساقي په ګوټ مې تنده نه ماتیږي
شا به راواړوه بې واره یاره

ستا د راتلو په انتظار کښې خدائیګو
ما به کتل شاته په لاره یاره

کچکول کښې د دیدن خیرونه راکړه
اے د الیاس ملنګ خاکساره یاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

چې ستا ښائست ته ګلابونه خاندي
د زړۀ پرهر ته مې غمونه خاندي

داسې سحر به ولې نۀ غواړمه
چې په کښې خدایه ماښامونه خاندي

زړګیه تۀ د جانان غم وړے ئې
ماته د هجر تورتمونه خاندي

چاته د خپل مینې ارمان ژړیږي
ماته خواږه د چا یادونه خاندي

چې د سپوږمۍ په مخ داغونه وینې
ستا د سپین مخ شینکي خالونه خاندي

چې د الیاس! مستي ئې ولیدله
ساقي په لاس کښې دې جامونه خاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

سرهٔ سکروټه شي لمبه شي
چې غصه شي چې غصه شي

ښائست نور دې هم سپوا شي
چې خفه شي چې خفه شي

ما د پاره هم هغه ئې
که تهٔ څهٔ شي که تهٔ څهٔ شي

قند شکرې کړمه هېرې
چې خوږه شي چې خوږه شي

په هر ځائے دې ځکه ستائم
چې قیصه شي چې قیصه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټــول مــاحــول دې ســـــنــدریــز کــړو
چــې نــغــمــه شـــې چــې نــغــمــه شـــې

بــس دے نــور ظــلــمــونــه مــۀ کــړه
چــرتــه مــړه شـــې چــرتــه مــړه شـــې

الــیــاس! مســـکے شـــي پــه ژړا کښـــې
چــې تــرخــۀ شـــې چــې تــرخــه شـــې

## هائیکو

وچ پــه نــاحــقــه یــو بــل اوزوروي
دپښـــتــون دغــه ســوچ کــه دغســـی وو
د مــخــکښـــې تــلــو ګــمــان دي نــه کــوي بــیــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مینه

په هر قدم ترینه زاربږه کلیواله به وي
زما د زړهٔ معصومه مینه ده لېواله به وي

کم د ے خو در ګوهر ئې بیا بیا څڅېدو د ککو
ما وې زما شانې د غم سره خوشحاله به وي

ستا د فرېب د خندا دوه معنې ئې زده وې چرته
زړهٔ مې معلوم د ے نهٔ پوهیږي مذوب حاله به وي

الیاسه د صبر تعویز اوکړه دلاسه کړه زړګے
اخر به تاله غاړه درکړي خو بې حاله به وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

کـه دې پـه مـړو ســـتـرګـو کـتـلـے نـۀ وے
جـانـانـه زړۀ  بـه مـې بـائـېـلـلـے نـۀ وے

کـه ســـتـا وفـا راســـره مـل وے اشـــنـا
پـه دار بـه هـيـڅ کـلـه خـتـلـے  نـۀ وے

زړۀ مـې نـادان دے نـۀ پـوهـيـږي ګـنـې
والله چـې  تـۀ خـو دومـره ښـــکـلـے نـۀ وے

پـه ډکـه خـلـه  بـه ولـې نـۀ خـنـدېـدې
زمـــا  د  زړۀ  ازار  وهـــلـــے  نـــۀ  وے

لـږه پـښـــتـــو نـنـګ ئـې لـرلـو ګـنـې
الـيـاســـه! تـه بـه خـنـدېـدلـے نـۀ وے

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

ستا د تصوير په ننداره تېره شوه
د هجر شپه څومره خوږه تېره شوه

ستا د راتګ څۀ پته نۀ لګېدۀ
په کښې مودې اوشوې موده تېره شوه

زما خوبونو ته به څنګه راځې
په دې فکرونو کښې مې شپه تېره شوه

د باغ ګلونو هسې نۀ خندله
ستا د ښائست په کښې قيصه تېره شوه

د جانان سترګو ته مې نۀ شوه کتے
نن په ما داسې حادثه تېره شوه

الياسه! دا ولې وارخطا ئې دومره
داسې ښکارېږي محبوبه تېره شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

سورې سورې سوې ځيګر ګرځمه
د يار د لاسه در په در ګرځمه

جانان د قصدا مرور شو رانه
ځکه د ځانه مرور ګرځمه

مينې دې ياد په لېونو کړمه زۀ
ځکه د ځانه بې خبر ګرځمه

راته ئې وئيلي وو سحر به راځم
ځکه تکل کښې د سحر ګرځمه

خلق سجدې کوي جنت غواړي
الياس ! لټون کښې د دلبر ګرځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زړۀ مې د سیالۍ نه په درزا شولو
نصیب چې مې دیدار د خوږ اشنا شولو

وعده د نیمې شپې ئې د راتګ راسره کړې وه
رانغله شپه تېره شوه سبا شولو

ستا به یمه ستا زۀ د بل چا کله کېدے شمه
دا رنګې اشنا مې نن ګویا شولو

هغه د ګلونو ښائسته ښکلے جانان زما
شم به لېونے که د بل چا شولو

هسې دې الیاسه د اشنا خبرې نۀ منې
بیا درنه په تلو تلو کښې رضا شولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سوچ مې لېونتوب ته رسولے يم

سوچ چې په خندا شي

نو فکرونه ترې خبر شي

فکرونه چې راويښ شي

نو خيالونه ترې خبر شي

خيالونه چې بيدار شي

نو يادونه ترې جوړيږي

يادونه چې سېوا شي

نو زړګے مې نۀ صبريږي

چې په زړۀ کښې صبر نۀ وي

بيا نرے نرے خوږيږي

چې نرے نرے خوږيږي

نو جانان راته يادېږي

جانان چې راته ياد شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د ځانه بې خبر شم

چې د ځانه بې خبر شم

در په در خاورې په سر شوم

در په در خاورې په سر شم

ستا د کور په خوا چې ورشم

ستا د کور په خوا چې ورشم

خلق وائي لېونے دے

## هائیکو

زما چې کار وریکښې اونه شولو
پټ مې ملګري ته په غوږ کښې اووے
خر مې شاګرام خو پکښې اولیدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نیـــولې تـــل مـــې د زړهٔ پـــورې جانـــان
وېـم ورتـــه یـــو څـــهٔ وائـــي نـــورې جانـــان

ســترګو لــه خــوب بــه د شــپې څنګــه ورځـي
اســمان کښــې ســتائي راتــه ســتوري جانـــان

پــه کومــو ســترګو چــې ئــې غـــلا کــړې وه
اوس پـــه هغـــو ســـترګو راګـــوري جانـــان

مــاحول تیــاره شــي ســپوږمۍ نــهٔ ښــکارېږي
چــې پــه رانجـو کښــې ســترګې تــورې جانـــان

الیــاس! تــرې نــه بـل وطــن تــه کــډه یــوړه
اوس مــې دې نــهٔ راځــي پــه لــورې جانـــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما کلی

اوس په ښائست ئې زۀ اوچت وینمه
په کښې چې نخښې د جنت وینمه
راته دا ټول جهان دوزخ ښکاري
په خپل وطن کښې چې غربت وینمه

د غرونو منځ کښې دا جانان کلے دے
دغه زما خپل طوطه کان کلے دے

دا د ولو که د خوړونو او سیندونو ده
که دا ښکلا ئې د دنګو غرونو ده
سپرلے خو څۀ خزان ئې هم رنګین دے
دا معجزه ئې د مستو جونو ده

څۀ د عظمت او د څۀ د شان کلے دے
دغه زما خپل طوطه کان کلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس پـــه زړګـــي تـــرې يـــو ارمـــان غـــواړم
ماشـــومه مينـــه تـــرې قربـــان غـــواړم
دغـــه نـــرو تنګـــو کوڅـــو تـــه ئـــې زۀ
لـــوګـے لـــوګـے دا تـــول جهـــان غـــواړم

زمـــا د هـــر ارمـــان ارمـــان کلـــے دے
دغـــه زمـــا خپـــل طوطـــه کـــان کلـــے دے

زۀ ئـــې د ســـترګې عظمتونـــو نـــه زار
پـــه کښـــې صـــحرا او د دشـــتونو نـــه زار
دا چـــې ښـــکلا ئـــې يـــو پـــه دوه کـــړه ګلـــې
د دغـــــه کلـــــي د ګلونـــــو نـــــه زار

پـــه اليـــاس ځکـــه خـــوږ ېـــر ګـــران کلـــے دے
دغـــه زمـــا خپـــل طوطـــه کـــان کلـــے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستا نه پټه پناه څۀ ده؟

بې ګناه دوزخ کښې پروت دے
پتنګ کړې ګناه څه ده؟

چې د اور په لمبو سوزي
ترې نه شوې خطا څه ده

د غریب نه تپوس وکړه
دولت څۀ دے غنا څۀ ده

نابینا ترې څۀ خبر دے
تیاره څه ده رڼا څۀ ده؟

دا تپوس د ناوې وکړه
سرخي څه ده حنا څه ده

اے د مینې بې خبره
دعا څۀ ده ثنا څۀ ده

ته په دغه خیال لاهو ئې
حوره څه ده حلوا څه ده

د جانان د خیشت د مخې
ستا د حورو خندا څۀ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


شـــــېـــخـــه زر کـــړه راتـــه وايـــه
کــعــبــه څــه ده مــنــی څــۀ ده
بــې د مســـتــو شـــوخــو جــونــو
دا نــيــمــګــړي دنــيــا څــه ده
درتـــه وايـــم لـــويـــه خـــدايـــه
ســـتــا نــه پــتــه پــنــاه څــۀ ده؟

## قطعه

ژوند زما خاوري ايرې شــولاړم اورباندې ســتي شــوم
ســتا پـه مينه کښــې جانانه تهمتي شــوم تهمتي شــو

دا چې تاته پـه ســجدو شــوم خلقو چغې کړې کافر دے
ما وې چې شــئ ناپوهانو جنتي شــوم جنتي شــوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

پرهر د مات زړګي مې ژړېدو کښې راته اوخاندل
تا چې د سرو سترګو په ککو کښې راته وخاندل

جوړه ترې د حسن يوه نوې ننداره شوله
ساقي چې د مابښام په رنګينو کښې راته وخاندل

زړګي مې کړې رخصت د انتظار لمحې په مينه
وصال چې د هجران په تورو شپو کښې راته وخاندل

ګونګے چې مې ګلشن کښې په چغار خوشحاله وليد
لعل د امېدونو مړو ايرو کښې راته وخاندل

الياس! نه د ستم هغه زړې خبرې هېرې شوې
ګل چې د ازغو سره ميرو کښې راته وخاندل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سیلۍ

دا د کوم اړخ نه راغله

بې خبره په مستۍ

چې د پېغلو د سرونو

لوپټې ئې په هوا کړې

دا ظالمه ستمګره

دا د مینې بې خبره

بیا راغلې ده چې وران کړي

د معصومو مرغو جالې

بیا راغلې ده چې وران کړي

ښائستونه د باغونو

نرمې پاڼې د ګلونو

نو! ځنګه غلې شم ملګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګه چپ پاتې شم ربه

د سیلۍ په ناکړدو

چې ظلم روا وګڼي

او مینه نۀ پېژني

نو درته وائم ربه

داسې سیلۍ باندې طوفان راولې

-------------------

## هائیکو

د عبث سوچ په دائره کښې بند یو
دنیا سپوږمۍ کښې ځانله ژوند ګوري
مونږ په یاګانو باندې بحث کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

بې لوظه بې پښتو ده او بې ننګه خو!
دا مې خوښه شوې ده لا څنګه خو !

ما هم ځان د اور په لمبو وسېزو
ستا پرې نۀ یخیږي خوا پتنګه خو!

ما سره چې ئې مینه بې حسابه وې
خبر دے که نرۍ وې دنګه دنګه خو!

سترګو نه دې زار شمه ننګیالې دې
دوې به قتلول زړونه بې جنګه خو!

مخکښې شۀ الیاسه ګنې چا به لمسولے وې
پاتې ده لیلیٰ ګورے د ډنګه خو!

(c) ketabton.com: The Digital Library


# تپوس

خدايه ستا ورکړه ده زۀ څۀ اووايم

د خان بچې دې جنتي پېدا کړو

سر ئې په کاڼو شا مدام لګي

د خوار بچې دې لعنتي پېدا کړو

ستا د غټانو دا غټ ښتي بچي

لکه ببلو د مور په غېږه کښې

د زر روپو شوده د ورځې څکي

بل خوا شېرو چې په وړو چاچو

تور سرې مور له په جورابو باندې

د ورځې درې څلور روپۍ اوګټي

نو زړه ته مې راشي چې تپوس وکړمه

د خان بچې ولې په سورې ناست دے

(c) ketabton.com: The Digital Library


او دا غریب ولي غرمو ته سوزي

بل خوا ژړا راشي په دے خبره

د ببلو سپے ولي د سرو لوښي کښې

د خوار شړو په غوښو شخوند وهي

زه چې دا حال په سترګو وینمه نو

د وخت غټانو نه مي کرکه اوشي

ځکه چې دوي هډو انصاف نه کوي

نو که اجازت وي یو تپوس کؤمه

د کائنات خالقه وایه راته

د خوارو دا حال به بدل شي چرته

کنه هم دوي به همیشه داسې وي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په سر ببر ځیري ګرېوان به نهٔ یم
ته چې راګورې نو حېران به نهٔ یم

که مې د غېرو سپرلے وران نهٔ کړو
ګرېوان مې وشلوئ خزان به نهٔ یم

د وطن شاړې که مې ګل نهٔ کړې
سترګې مې اوباسئ باران به نهٔ یم

که د باطل د سترګو خس نهٔ شومه
کافر مې ګڼئ مسلمان به نهٔ یم

ستا په الفت که ځان قربان مې نهٔ کړو
الیاس قسم خورمه انسان به نهٔ یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سندره

ستا په تکل کښې به تر مرګه پورې ژاړمه زۀ
عشق به دې غواړمه زۀ، د زړګي سره

که تللې تللې دواړه یاره
چرته د ژوند په نیمه لاره
خپلې سلګۍ به درته شمارمه زۀ
عشق به دې غواړمه زۀ، د زړګي سره

که تۀ راځې راځې نو راشه
راشه دلبره په خندا شه
لارې کوڅې به درته څارمه زۀ
عشق به دې غواړمه زۀ، د زړګي سره

په سترګو سترګو کښې 'خمار شه
ما وې میلمۀ ئې لږ ایسار شه
راته ئې چغې کړلې لاړمه زۀ
عشق به دې غواړمه زۀ د زړګي سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپرلیه

خــېــر پــه نــازونــو او ادا راشــــه
ســـپـرلـیـه راشـــه یـو ځـل بـیـا راشــه

پـه کښـــې هـر ګـل چې خـنـدېدلے ویـنـم
د زړۀ پــه کــور مــې د اشـــنـا راشـــه

ســتـا دې پـه خـپـلـو رنـګـیـنـو قـســم وي
پـاتـې چې نـۀ شـــې خـامـخـا راشــه

خـوشـــې صـــحـرا کښـــې د ګـلـونـو خـاطـر
پــه شـــاړو کــنـدو او بــېـدیـا راشـــه

خــزان خـــو ډېــر دے ژړولــے الـــیــاس!
تــۀ ورتــه خــېـر دے پــه خــنـدا راشـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

خندا ئې د سرو شونډو پرونۍ مې یاده شوې ده
هغه د خیالونو لېونۍ مې یاده شوې ده

شپه د انتظار وه خو مزه هم په کښې ډېره وه
ادا ئې د سرو سترګو بېګانۍ مې یاده شوې ده

ګرځي مې خیالونو کښې والله چې مې هېرېږي نهٔ
په خپل حسن مغروره ښاپېرۍ مې یاده شوې ده

ساقي ستا د نیمګړي جام سرور مې نهٔ خو ښیېږي
نشه د خپلې مستې شان ځوانۍ مې یاده شوې ده

الیاس! چې تا د زلفو سره خیال کښې لوبولے وو
بیا جوړې نن هغه زولنۍ مې یاده شوې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

نمر سپوږمۍ کړه په څلا مې کړه خدایه
دے تیارو لره رڼا مې کړه خدایه

که د بل چا نوم په خله مې واخستلو
درته وائم چې رسوا مې کړه خدایه

چې د یار په تلي پرېوځمه بې خوده
یو قطره بس د حنا مې کړه خدایه

چې بدله د حسین واخلم د یزید نه
نر سپاهي د کربلا مې کړه خدایه

د باطل سترګو له سور د اور بخرے
تورو تیارو کښې د عقبٰي مې کړه خدایه

چې ترې ږیره شوکوم د حق دپاره
د فرعون غېږ له موسيٰ مې کړه خدایه

که وختونه د ژړا راباندې راغله
الیاس ! وائي په خندا مې کړه خدایه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

راواچوه چې شـــل شـــي ګـلـه بیـا پـه دې خبره
شـــین شـــو د خـنـدا نـه مې اشـــنـا پـه دې خبره

مینـه عبـادت کېـږي حسـاب شـوې د ازلـه ده
زړۀ رانـه تـا وړے بـس واللّٰه پـه دې خـبـره

ما وې تـۀ بـه شـنـۀ شـې د خـنـدا نـه راتـه ګلې
تـا بـه راتـه وئـیـلـه بې وفـا پـه دې خـبـره

څوک ئې ډېر زیات خوښ دے مونږه دواړو کېـږي
راځـه چې خبر دے شـرط کېږدو ملا پـه دې خبره

ما وې د هر چا سـره مینه ښـۀ ده مینه ښـۀ ده
تـا بـه هـم کـولـه مـې خـنـدا پـه دې خـبـره

الیـاس ! تـه د یـار مینـه نصـیب شـوې ده ملګرو
اور اخـلـي قسـم دے چې دنـیـا پـه دې خـبـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

پــه پــۍ مــخــې دلــربــا بــانــدې مــئــيــن شـــوم
لــېــونــے يــم پــه ســـودا بــانــدې مــئــيــن شـــوم

دا خـــنـــدا پـــســـې ژړا وي دا مـــتـــل دے
نو بيــا څـۀ لــه پــه خندا بــانــدې مئين شـــوم

چــې اقــرار کـښــې دې انــکــار کــولــو يــاره
ســـتــا پــه دې يــوه ادا بــانــدې مــئــيــن شـــوم

چې بــار بــار پــه کښـــې پښـــتو ســـتــائي ملګرو
پــه شـــعــرونــو د حــمــزهٰ بــانــدې مــئــيــن شـــوم

زۀ الــيــاس! د خــپــلــه ځــانــه ګــيــلــه مــنــد يــم
چې لــه تــا شـــان بې وفــا بــانــدې مئين شـــوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (هائیکو نما نظم)

چې اوازه د بې ننګۍ یې راغله
ورسره زوړ تعلق مې پرېښودلو
په یو هندو بڼ خیله نه ورانیده

په راه راست یې خلق نه پوهیده
دا ځل په هر چا کښې شعور راغلے
ستا په وحشت درشخیله نه ورانیده

په دوه روپو دي خپل ایمان خرڅ کړو
که د ضمیر سودا دي نه وه کړے
پګړۍ به ستا شاه خیله نه ورانیده

دا چې یو بل پسې لګیا یو مونږه
دے کښې ضرور به دچا ګوته وه
صفونه بې د تیله نه ورانیده

۲۲ جنوري۲۰۲۳ -- دمام

(c) ketabton.com: The Digital Library


# راز (ازاد نظم)

لکه لعل چې پټ مسکن کړي
د کمر غیږ کښې د ننه
داسې تا په سل پردو کښې
ځان رانغښتے دے دلبره
کله یو څاڅکے د نور شے
کله ساز نغمه سندره
کله خپل رازونه واړه
په یو دم کښې ټول افشان کړے
کله ګل ته غسل ورکړے
د سحر په پاکه پرخه
کله تکه توره شپه کښې
د سپوږمۍ رڼا خوره کړے
د دے هر څه باوجود هم
که زه وایم چې جانانه
زه تا نه پیژنم اورے
نو ریښتیا خبره دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان مې نه دے پیژندلے
ګنې ولې به لګیا ووم
خدایه پوهه مې په ځان کړے
چې مستي شم او سرور شم
چې جنون شم یو ارمان شم
بس چې مینه شم وفا شم
لویه خدایه لویه خدایه
بس چې ستا شم
بس چې ستا شم

پراناګووا - برازیل ۲۰۰۷

## د اختر په راتګ

یــه د مــابنـــام تــیــارو غــرور مــۀ کــوئ
یــو نــوے جــوش نــوے ســـحــر بــه راځــي
دا ځــو د غــم ورځــې بــه هــم تــیــرې شـــي
د خــوشـــحـــالـۍ نــه ډک اخــتــر بــه راځــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ژوند له په اسباب به غزل نه وایم
نور داسې بېتاب به غزل نه وایم

وائي راته وژنم دي څه مه وایه
څنګ په اضطراب به غزل نه وایم

ویمه که جناب پرې خفه کېږي نو
خیر دے په جناب به غزل نه وایم

روغه د قاتل سره مې شوې ده
بس په انقلاب به غزل نه وایم

دے مې د مرضۍ سندرې نه وائي
نور په دے رباب به غزل نه وایم

بې وخته حسرتونو بوډا کړے یم
اوس دې په شباب به غزل نه وایم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیرے د اختر راباندې ته کوے
هلاله په مهتاب به غزل نه وایم

زمونږه یې خاورین کورونه وړي دي
چرته په سیلاب به غزل نه وایم

ښار مې نقاب پوشو لوټي لوټي کړو
خدایګو په نقاب به غزل نه وایم

روښانه سباؤن پکښې روښان نه دے
دهوکه ده په سراب به غزل نه وایم

تا پرې ساده خلق ترهه ګر کړله
امیرصیب په ثواب به غزل نه وایم

یار دې د چکوال سره ملګرے شو
الیاسه په خوشاب به غزل نه وایم

۲۵ مئ ۲۰۲۳ دمام

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

خپله خاوره خپل اختیار لاسو له ورشي
ځان چې اوپېژني وار لاسو له ورشي

د میرېږ په رنګ وزرې پورې وشې
د کم اصلو چې اختیار لاسو له ورشي

ګلستان غوندې وطن پکښې کنډر شي
د کم عقلو چې سرکار لاسو له ورشي

شخوند وهي چې د غریب سړي په غوښو
دا ظالم دي د زردار لاسو له ورشي

په فریب یې ګډوي د ځان د پاره
بس پاړو له چې یو مار لاسو له ورشي

پند تري واخلي دومره لویه ګټه اوکړي
ادب خوښو له چې زیار لاسو له ورشي

لوئ الله به یې بخښي دا یې باور دے
که الیاس یې ګناهنګار لاسو له ورشي

۲۸ مۍ ۲۰۲۳ دمام

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ځے په نيمې شپے باندې ځنګه ځنګه چل اوشو
ما شان بے اسرے باندې ځنګه ځنګه چل اوشو

خره شوله ځان پکښې د ځان په رنګې نه وينم
دا په ائينے باندې ځنګه ځنګه چل اوشو

ژوند ته پکښې نه پربږدي ساده او پښتانه خلق
دا په زمانے باندې ځنګه ځنګه چل اوشو

ځان پکښې ياد ے خالي د ځان پکښې صفت کوے
ستا په ترانے باندې ځنګه ځنګه چل اوشو

اوس د راتلو ګمان دي زړه ته هډو نه راوالم
دا دي په وعدے باندې ځنګه ځنګه چل اوشو

موده اوشوه چې خبر مو د يو بل نه دے اخستے
ستا په يارانے باندې ځنګه ځنګه چل اوشو

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما د مات زړګي د رغیدو سندري نه وائې
ربابه په نغمې باندي ښنګه ښنګه چل اوشو

الیاس ته دي د زړه پټه خبره پکښې اوکړله
دا دي په بهانې باندي ښنګه ښنګه چل اوشو

۲ جون ۲۰۲۳ دمام

## هائیکو

ښنګه به په دغه خاوره امن شي
دلته د غریب چي حق تلفي کیده
ډیرو ورته چینګه خوله نیولي وه

## هائیکو

غرض مي دا وي چي پښتون بیدار شي
زه په پښتو کښې لیک ته هڅه اوکړم
بس خو یاګاني دي چي نه مي پریږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هائیکو

ښکاري حق پرست نه ئے
شل شل دي جوړ کړي دي
سم شلتالو نه وائے

## هائیکو

دلته د قاضي په فیصلو کښې هم
قتل د انصاف کیږي په جار باندي
نو دلته زلزله به په مونږ نه راځي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه يې د اولس د زړۀ سلطان کړمه
خوي راله يزدان داسې راکړے دے

الياس د وخت جابرته نبغ ولاړ يمه
فکر راله توان داسې راکړے دے

**محمدالياس**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**